د قلم د مجلې نه

د محترم الحاج ننګیا ل لیکنه

# د استاد الفت فن او فکر

زه خپله هېڅکله هم ددې دعوه نشم کولی چې د استاد الفت په ژوند او فن به داسې څه ولیکلی شم چې د دې ور وي، چې د هغه د فن او هنر ، ژوند او مبارزې داسې اړخونه وځلولی شي چې هغه یې د فن په هنداره کښې نه وي پرقیدلی.

اصلاً د شاعر فن یوه داسې روښانه او ځلانده هنداره ده چې د شاعر طرز تفکر، ژوند، احساس او جذبات د خلکو مخې ته ږدي بیا به نو داسې څه پاتې وي چې زما غوندې یوه مات او کوږ قلم ته پرې د لیکلو ضرورت ولیدل شي او ماته خو لا خپله بې علمي او نا توانې هم ښه معلومه ده چې زما په وړاندې یې څومره دیوالونه درولي دي، خو بیا هم ځان لدې سعادت څخه نشم بې برخې کولی، زه پوهیږم داسې ورځې او وختونه کله کله د سړي مخې ته ورځي. حالات همیشه په دغه لوري د تلو وخت نشي پیدا کولی او دا ټول شرائط د لږ وخت لپاره لاس ته راتلی شي.

د یوه لیکوال خبره ده" „دا زموږ د قام بد قسمتې ده چې موږ عمر له خپل مړی ژوندی کوو او خپل ژوندی وژنو"".

خو کاشکې خبره داسې وای. دا ریښتیا ده چې موږ خپل ژوندې وژلي او وژنو یې خو مړی مو ډېر لږ څه چې ښځې لږ ژوندی ساتلی دی په موږ کښې چې څوک مړ شي نو هغه پر شوی، دا بیا د پېړیو او نصیبونو خبره ده چې کله نا کله په چا د ژوند ورمه لګیدلې ده. د مرګ او ژوند دا کیسه زموږ د ظاهر بینو سترګو تر مخ روانه ده کنه نو حقیقي مرګ او ژوند دا موجوده ښه نلري کومه چې زه او ته یې په تعبیر پسې لګیدلی یو.

دا چې په یوه دوو مقالو څخه موږ یو مړی ژوندی ساتلی شو هسې ځان خوشا لوو- ګنې حقیقت دا دی چې موږ له مړو او ژوندیو دواړو سره جفا کړیده.

اوس که به موږ کښې دا جذبه پیدا شي چې په مرګ هم د چا قدر را معلوم شي او محرومیت مو د نعمت پر ارځښت پوه کړی شي هم لویه خبره ده.

په موږ خو له بده بخته داسې کانه شوی چې ژوندي مو وژلي او مړه مو پره کړیدي.

او بیا نن سبا- توبه نن خو د مرګونو بلا ګډه ده هر څه په مخه اخلي او په لمن کښې یې نغاړي- ژوندي وژني او په مړو د پرې خاورې انباروي.

د ژوند او مرګ په دغه کشمکش کښې زما ملګرو د دغه مسلط دود او پولو د ماتولو تکل کړی- دوی غواړي ټول ژوندي پاتې شي او د مړی عنوان له منځ ووځي. په چا د مړه نوم پورې نشي هېر او پر ونه ګڼل شي د غرضونو، سیاستونو او خود خواهیو له منګولو وژغورل شي. د شو او بدو، مرګ او ژوند، حقیر او محترم له ویش او سخاوت څخه د اقتدار لاس لنډ کړی شي. دا نیك په ځای او ضروري کار دی خو حوصله ډېره غواړي او د پرله پسې خوارۍ غوښتنه کوي.

د جهاد په تېرو دوولسو کلونو کښې که زموږ مجاهد او قهرمان ولس د خپلو سرونو په بیه د خپلو ویاړونو او قهرمانیو څلې و درول او نوی افتخارات او شخصیتونه یې جوړ کړل خو ورسره سیاسي لو بو د تېرو ویاړونو او شخصیتونو سره د جفاکانې هم راواخیستې او د پرون هر څه یې نه دا چې تر ډېره هېر کړل بلکې وخت په وخت یې وغندل هم.

اوس چې دوستان د خپل ولس د یوې درنې هستی یوې جاودانې او عملي هستۍاو یوې ویاړ منې او تاریخي څېرې یاد تازه کوي او د ادبي او عملي خدمتونو د لمانځنې باب یې پرانیزي دا یو نوی قدم دی، یو نوی فصل دی او یو داسې اقدام دی چې د بېدارو ولسونو له پاره ضروري او حیاتي ګڼل کېږي. او داسې اقدام چې لا مخکې په کار ؤ.

خو غوره او ښه کار هر وخت ښه او غوره دی اوس هم که زموږ سد سر ته راشي دا به زموږ لويه نيکمرغي وي. اوس هم که موږ متوجه شو لا وخت شته چې موږ خپل رنګ وساتلی شو او د نورو په رنګ کښې له رنګيدلو په امن شو.

د قلم درنې مجلې پتېلې ده چې د مرحوم استاد الفت د وفات کليزه ولمانځې چې په رښتيا هم يو ډېر بختور او ارځښتناك اقدام دی او يو تاريخي او ملي مسؤوليت.

په تېره په داسې سختو شرايطو او ترخو حالاتو کښې چې زموږ مجاهد ولس د يوه سخت ازموينست په ډګر ولاړ دی او د بهرنيو ځواکونو او توطئو او د دوستۍ په جامه کښې د دښمنيو له سختو سيليو او توپانونو سره مخامخ دی د هيواد دملي، علمي، تاريخي او ادبي شخصيتونو د افکارو، خيالاتو او فنپارو راسپړنه هغه پيغام دی چې استاد الفت پخپل ژوند د هغې داسې يادونه کړې:

اوس يې که څوك نه لولي عالم په خوب ويده دی ټول
دا د سـبا ورځـــې وبښ ځلمـــو تـــه پيغامونـــه دي

زموږ د ګران هيواد د ادبياتو معاصر تاريخ د همدغسې يوې ځلانده څېرې او لوړ شخصيت د فکر او فن په ډيوو روښانه او ورنګن دی چې د ژوند او فن تر منځ يې اعتدا ل ډېر ښه او جوت ساتلی او د ژوند او فن د يوه ښايسته ګډون پيلامه يې کړيده.

هو!

استاد الفت شاعر ؤ خو مجتهد شاعر، داسې شاعر چې د ادبي اجتهاد پر معراج يې پل اېښی او يو ځانګړی مکتب او سبك يې ايجاد کړی- د رحمان با خبره:

چـــې دا نـــور شـــاعران کانـــدي هغـــه نـــه کـــا
رحمـــان کـــړی نـــوی نـــوی اجتهـــاد دی

د استاد شاعري د زمان او مکان له قيده آزاده ده- د وخت شاعری نده د وختونو ده- د زمانې شاعري نده د زمانو شاعري ده.

د استاد الفت شاعري زړښت نلري څو چې دنيا ودانه ده د استاد شاعري به د خلکو په زړونو او ذهنونو خپله پادشاهي چلوي، داسې چې دتل لپاره به د ده نوم زموږ د شعر او ادب په نړۍ خپور وي.

د استاد شعرونه يواځې د پرون شاعري نده د نن شاعري ده او د سبا شاعري چې هر وخت د وينتابه پيغام وراندې کوي د حرکت الهام او د حق په لور د قيام قوام داسې شاعري چې د يوه نوی دور اعلان کوي او د زوړ رنګ او نوی طرز يو ښکلی امتزاج ګڼلی شي.

د استاد شعرونه او ليکنې غوره- خيالونه لوړ او فکرونه ژور دي. د ده نظريات شخصي او ذاتي ندي اجتماعي دي- د ده سوچ، تصورات د ده ليکنې او احساسات له خپل ولس او خلکو سره په ژور او نه شلېدونکو تارونو تړل شوی چې هېڅکله هم نشي سره بيلېدی.

استاد په پښتو ادب کښې د يوه رغنده او انقلابي غورځنګ بنسټ اېښی او د انقلابي ادب روښانه ډېوې يې بلې کړيدي.

د استاد په شعرونو کښې د پيغام او الهام جهت ښه جوت دی د ده شعر مبارز شعر دی- د ټولنيزو نا خوالو- نا برابريو او نيګړتياوو سره لاس او ګريوان شعر دی- له بې عدالتيو سره په جګړه بوخت شعر دی او د حق په لار کښې د پاخون د شعور او احساس بيدارونکی او پاروونکی شعر دی.

استاد پخپله شاعری او شعري سفر کښې د خپلې ورکې په لټون پسې دی، دی د موسیٰ په لټه کښې دی چې د وخت د مغرور فرعونيت ګريوان ته لاس واچوي او شکست ورکړي.

دی پخپل ځير او تی‌ز بين نظر کوه طور ليدلی شي خو دغه طور ته د وخت په کړليچونو کښې د موسیٰ لټون جاري ساتي.

استاد چې خپل خواږه هيواد ته پخپل ژور او رسا نظر وګوري او د سپين غره دنګې څوکې د خپل لوړ خيال په پردو کښې واړوي نو دا ورته د طور غر ښکاره شي د حقيقتونو او حقايقو د تجلا طور – هغه طور چې د موسیٰ د راتلو لار څاري.

د دغه آسمان څکو څوکو ځلا دده په نظر کښې هماغسې ځلکونه وکړي او دلته دغه طور ته د موسیٰ په ارمان د زړه د درد دا ټول ترجماني کوي.

کوه طور غوندې ځلېږي خو افسوس چې موسیٰ نشته
چــې الهـام ورځنــې واخلــي هغـه لــوی رهنمــا نشـته

په رښتيا هم که د طور دغو غرونو موسیٰ د رلودلای چې د لار ښوونې او حرکت پيغام يې خپور کړی وای او د دغه ولس د يون قافله د چا موسیٰ په مشری روانه شوي وای نو د وخت د فرعونيت ټول مظاهر به لا د وخته له منځه تللي وو.

د استاد په شعرونو کښې د يو اصلاحي انتقاد سرشار روح په څپو دی چې د اجتماعي نا کراريو او نا برابريو خلاف د احتجاج روح پاروي- د حق او عدالت په لار کښې د مبارزې احساس توپاني کوي او د وېښتابه او حرکت هنګامه توده او څپانده ساتي، داسې څپانده چې د څپو شور او زوربې په زړونو او فکرونو کښې د يوه خوځښت او انقلاب لوری په ګوتو کوي.

د استاد شاعري د وختونو او زمانو له پيغامونو او الهامونو څخه څپانده ده ځکه خو د ده شعرونه داسې ښکاري چې همدا نن او همدا اوس اوس د خپلې ټولنې د روانو کړاوونو په ليدلو يې له دردمند زړه څخه دا چيغه را پورته شوې- لکه چې په دغه غمو نوکښې له موړ سره ځنګ په ځنګ روان دی له همدې ځايه ويلی شو استاد د پرون په هنداره کښې نن ښه جوت ليدلی او د سبا له پټ مخ څخه يې پرده پورته کړيده.

وګورئ څه ښه وائي:

چه بې قيـده بې جلبـه زوردهرچالاس تـه ورشي — عقل ئې کوچ وکړي لـه سره رحم ئې زړه نـه رابهرشي

مجاهـــددآزادۍ چـــه اقتدارتـــه ورســـيږي — بياهماغـه سـړی ګـوره ازادۍ تـه لـوی خطرشـي

دقــدرت هضــمول ګــران دی دادهرســړی کارنــه دی — خيال يې بل فکرئې بل شي چه ئې لاس پـه نوروبرشي

تحمــل دانتقادخوضــعيفان نشـــي کـــولی — ډيرقـوي سړی پـه کاردی چه داپيټی ورپـه سرشـي

.........

چــې اصـلي څېـره د چـا ښـئي هـر چـا تـه
اقتــــدار دی اقتــــدار دی اقتــــدار

د شوری تر عنوان لاندې شعر يې د نن له وضعې سره څومره جوخت اړخ لګوي او د مشورتي او موجوده شوراګانو او دې ته ورته حالاتو او جرګو پيشکويې کوي دلته سړي ته په ډاګه کيږي چې استاد د پرون په آئينه کښې نن څومره روښانه ليدلی:

نـــه پوهېـــږم چېرتـــه بـــه داســـې شـــورى وي　　　چـــه درېـــرې واک اختيـــارئې دمـــلا وي

کلـــه اورکلـــه اوبـــه وي کلـــه هـــيڅ نـــه　　　ګـــاه دوســـپنونيني ګـــاهې حلـــواوي

څـه چـه نـن کانـدي تصـويب سـبائې ردکـړي　　　پـه هـرآن کښـې پـه غضـب هـرآن پخـلاوي

تصـــــميم نيســـــي ماتولوتـــــه هرګـــــوره　　　مـاتول دخپـل تصـويب بـې مشـغولاوي

يووخـت سـپينه رڼـاورځ تـوره شـپه کانـدي　　　بلـه ورځ ورتـه تـورتم سـپينه رڼـا وي

د استاد فن د افکارو او تخيل په پروربنت کښې د يوه پوهنتون هومره کار کولی شي د ده فن له نويو نويو نکاتو ډك دی او د ژوند له ډېرو عميقو اسرارو څخه يې خبرې کړي، سړی دا ګڼي چې دوی به حتماً د ليکنې پر وخت ډېر نازك او واړه دقايق ليدلی وي د دوی په فن کښې جمال- برهان- انتقاد- احساس او درد په زړونو او فکرونو بې تاجه پادشاهي کوي او د ټولنيز سمون په لور د يوه اصيل حرکت او دعوت مخه پرانستی ساتي:

راځـــئ! چـــې حـــق دانســـــان اداکـــړو　　　نـــه يـــې غـــلام کړونـــه يـــې آغـــاکړو

نـــه يـــې ګـــداکړوبل تـــه محتـــاج　　　نـــه يـــې راجـــاکړوچې اخلـــي بـــاج

نـــه يـــې ظـــالم کړواونـــه مظلـــوم　　　نـــه دېـــربې قيـــده نـــه ډېرمحکـــوم

د استاد فن د مطالعې په وخت سړی دا ګڼي چې دده دزړه ټول دردونه ارمانونه او غوښتنې په همدغو کربښو کښې راغبرګې شوې داسې چې د ولس او خلکو د زړه غږ او د ژوند نغد تصويرونه ټول په همدغو جملو او کلماتو کښې ورته مخ لوڅوي ځکه خو د استاد فن پخپله د يوه نهضت او غورځنګ هنګامه توده ساتي او د انقلاب ډيوه روښانه:

پس له ډيره دلسردی نه تقاضا ده پيدا شوی　　　ســرو لمبــو تــه د لويــدلود بتــانو مــاتولو

د استاد فن د دعوت او مبارزې په لار کښې:

که د فکر ښکارولو يا د حق ويلو ځای وي
د چـــا ســـترګو رډولـــو نـــه دارنکـــړم

. . . . . . . . . .

د ځان ساتلو پوهه عامه ده هر چا سره ده
هـم لـه انسان هـم ځناورو د صحرا سره ده
د حـــق ويلـــو او د ځـــان قربـــانولو پوهـــه
لـه اولوالعزمـو لويـو خلکـو د دنيـا سره ده

. . . . . . . . . .

د پلار نيکه په قدم مه ځه حقيقت پسې ځه
هغه دود پرېږده چې حکمونه د قرآن ماتوي
.........
بايد شعر شعور خلاص کړو له قيدونو
ترقي لور ته رهبر شي د فکرونو
د اوهامو خرافاتو بتان مات کړئ
وي منکر د زور او زر د قدرتونو

استاد د اسلام روح او د اسلامي دعوت د پراختيا او د اسلامي برم او پرتم دا ډول آموزنده يادونه کوي او د اسلامي دعوت اصلي او سياسي راز بيانوي:

جوړه مدينه کړه له يثرب نه محمد(ص) ده داسلامی تمدن ستهه کيښودله
زړونه ئې قوي کړه په ايمان دايماندارو ځکه به يوتن لسوته ماتې ورکوله
جوړئې مسلمان نه دجهان لوی قهرمان کړ هرځای داسلام جنډه په سرورپيدله
رايې وړه باطن ته رڼايي د معرفت نوته زړوته چه بياهيڅ ونه وتله
لوی جهاد شروع شوچه په الله اکبربه زمکه له هيبته لکه پاڼه ريږديدله

استاد د ماضي له يادونې حا ل ته راځي- د ماضي ياد تازه کوي څو د حا ل له ستونزو او کمزوريو څخه د خلاصون لار وښئي:

نن هغه قوت دی کله پاتې مسلمان کښې
هغه روحيه مسلمانانو وبايلله
وينو کښې اوس نه لامبي مسلم شو د اوبو مهی
نه ورکوي سر خو سرسايه يې ومنله
نه کوي جهاد نفل کوي او وظيفې کوي
مفت ثواب ته ملا مسلمانانو وتړله

دی له ظلم او ښکيلاک څخه د اسلامي امت د خلاصون يواځينی لار او د بر لاسی او سر لوړی راز جهاد ګڼي ځکه خو ځای په ځای د جهاد او د هغه د روح او مفهوم يادونه کوي او په دغه لار کښې دعوت چلوي او د محمدي رغنده انقلاب او ژغورنده خوځښت اهداف او لاس ته راوړنې دا ډول تفسيروي:

راغی جهان ته محمد (ص) چې وران جهان جوړکړي
چې جوړوونکی د جهان يعنې انسان جوړ کړي
الفته ده راووړ جهان لره کامل سړيتوب
سړی سړی شو په رښتيا د محمد(ص) په عرفان

دی د جهاد په لار کښې پر ناکامي هيڅ ګروهمن نه دی او د دغه لارې هره ستونزه، هر کړاو او هره ربړه کاميابي ګڼي:

چې جهاد سیاسي نه وي مسلکي وي    سیاسي مراعاتونه لا یعني وي
انحراف چې له مسلکه قبول نه کا    نا کامي هم ډېره لویه کامیابي وي

ځوك خپل فکر ته ملګرى لټوي    ځوك ملګرو ته خپل فکر بدلوي
چې خاوند د عقیدې وي په رښتیا    عقیده له ځانه نه قربانوي

استاد د راروانو خطرونو او د استعمار له توطئو او ګواښونو نه دا وړ هوشدار ورکوي:

د افغاني وحدت په حا ل مې زړه رپیږي مدام
بله نقشه د سیاست په دورنما کښې وینم
د اتفاق نارې وهي د نفاق اور بلوي
دوستی کښې پټه دښمني زهر دوا کښې وینم

دی د ملي وحدت د داعي او منادي په توګه هر ډول تبعیض او امتیاز ردوي او محکوموي:

یو غلجی بل درانی دی ځوك تاجك دی ځوك ازبك
د افغان له کور او کلی خدایه ورك کړې دا توپیر
که تبعیض او امتیاز وي هر څو غلی په پرده کښې
نه پټیږي پرې پوهیږي که اعمیٰ وي که بصیر

*************

بې له تقوا هیڅوك په هیچا بر تري نه لري
دي برابر عرب عجم سپین وي که تور مؤمنان

استاد د مفکر او فیلسوف په حیث ، عشق، معشوقه، آزادي، قرباني، هنر او ژوند داسې تعبیروي:

محبوبه د هنر من ښکلی معنا ده    معشوقه د بوالهوس پا در هوا ده
د چا سترګې ساري ستوری او سپوږمۍ    د چا برخه هوسونه خر مستۍ
د الفت محبوب عرض نه دی جوهر دی    په نظر کښې یې چې ښکلی دی هنر دی

لېونی یونس ځنځیر کښې و ترلی    مور په کور کښې زولنو کښې ۇ ساتلی
نن په مرګ له زولنو څخه آزاد شو    آزادی ته خوشې نه دی رسیدلی

دی مرګ او ژوند ته په دغه ظاهري بڼه نه ګوري دی پخپل ژور نظر د مرګ او ژوند حقیقت دا ډول بیانوي:

ډیرژوندي دې شي هغه مړي نه ځار    چه په مرګ ئې شي ډیرخلک ناقرار

معنوي ژوندیې له خضرنه کم نه دی    چه په چاانسانیت کړي افتخار

مړهغـه دی چـه ژونـدی پـه مړه حسـاب وي نـه مـري هغـه چـه ژونـدی یـې وي یادګـار

ډیرژونـدي مـړه دي اوډیرمـړي ژونـدي دي مـړه وي هیرژونـدي پـه یـادوي دروزګـار

هرافغـان تـه الفـت دومـره پوهـه غـواړي چـه د مـرګ وژوندتشـخیص تـه ده پـه کـار

د استاد فن له بې کفایته او مسلط چارپیر چل سره د منطقي، مؤثرې او دوامداره مبارزې پیلامه ده چې د یوه مبارز ادبي غورځنګ بنه لري او له حاکمه فساد سره د مبارزې په ډګر کښې مخکښ ادبي جنبش ګڼلی شي:

وینـم ګـورم اورم چـې نـور څـه کـوي مـوږ څـه کـوو
سـتا نـوکر کـه یمـه مګـر ګـوره کـور او کـر نـه یـم

شخصـي تظـام چـا تـه ډېـر څـه ورکـوي چـا تـه خپل حق هم پوره نه ورکـوي
کلـه دچـا مـخ ښـکلوي پـه مینـه کلـه بیا ګوره څوك پـه خولـه ورکـوي

مـچ کـه پـاس د چـا پـه سـر ځـای ولـري
کـه پـه لـوی دسـترخوان خـوري شـکر تـری
کـه د ګـل پـه پاڼـه ناسـت وي ګلخانـه کښـې
بیـا هـم نشـي پرېښـودی مردارخـوري

او دنن په رڼا کښې د پرون له ګوګل څخه دا غږ پورته کوي:

پـه ږیـره د بـا بـا اوس ماشـومان لـوبې کـوي خپه یم په مشرانو چې کشران لـوبې کـوي
پـه مدحـه پـه سـتایلو پـه بوټونـو پـاکولو دا خلك نن سبا په والا شان لـوبې کـوي
چې هر طرف یې بیایي په هماغه طرف درومي په ځینـو کـاردارانو درباریان لـوبې کـوي

د وختونو او زمانو په بهیر کښې خپل تلپاته او انقلابي پیغام او د وخت یو تریخ حقیقت داډول بیانوي:

خوله په څوك شي ماتولی د سر سترګې ړندولی
څوك ترلی سترګې نشي د وجدان او د ضمیر
مه غولیږه عالیجاهه که په خوله درته دعا کړي
جوړه نه راځي په زړه کښې د بډای او د فقیر

ځان د چا غلام کړه که په نورو باداري کوې
سـرټیټول زده کـړه کـه کارونـه سـرکاري کـوې
هلته زوروروتـه پـه ګونـډو لاس پـه نامـه اوسـه
دلته که فرعون غوندې په موږکلانکاري کوې

استاد الفت له وطن سره بې کچه مينه لري، دی ګوري چې هيواد يې له خدای ورکړيو نعمتونو او طبعي زيرمو څخه ډك دی خو وطنوال يې وږي دي، دلته دی چې دی خپل خوږ وطن مخاطبوي او وايي:

که ته زمونږ يې اومونږه ستا يو — ولې بې برخې اوبينوا يو
هرڅه په لاس کښې ديوڅوتنو — دبډايانو دغلو رهزنو
مونږ په خواريو په زحمتو کې — خوشحالان دي مست په نشو کې
ورته غريبي تل سرودونه — دوئ دي اوښکلي تل وصالونه
نورڅه نه کاندي بې عيش ونوشه — کله بيهوشه کله مدهوشه
که دي ناولي دي نازولي — هرڅه چه کاندي خودي ښاغلي
ترڅو به مونږ خوري هغه څوتنه — چې په دردنخوري دتاوطنه

استاد د مظلوم په دفاع او د بېوزلې په پلوی کښې له هر جابر او مستکبر سره لاس او ګريوان دی دی دخپل انتقاد په توره له هر ډول ټولنيزو نا برابريو او نا خوالو سره په ډغره او مقابله بوخت دی او خپل احتجاج په دا ډول بيانوي:

خپل تور مخ نه ويني خود بين نه دی — خپل بد ليدی نشي بد بين نه دی
که حق هر څومره وي ظاهر او باهر — ورته نه ګوري ظاهر بين نه دی

***************

په ورانکارو چې کارونه جوړوي — حقيقت کښې جوړ کارونه ورانوي
يا ټګي يا ډېره زياته ساده ګي ده — که بتان په بت پرستو ورانوي

وران کار به ودان ګڼې دلته که اوسيږې ته — حق ويل به زيان ګڼې دلته که اوسيږې ته
ورځې ته به شپه وايي چا که ورته شپه ويل — تور به سپين شيان ګڼې دلته که اوسيږې ته
هيڅوك ملامت ندی وران که تول کارونه شي — خپل قسمت به وران ګڼې دلته که اوسيږې ته
تيټ خلك به پاس ګڼې ناست که په جګ ځای کښې وي — ځمکه به آسمان ګڼې دلته که اوسيږې ته

يو شان ندي نصيبونه قسمتونه — کاتبانو د ازل کړي فرقونه
چا بانکونه دي ډك کړي په ډالرو — چا پخپلو خدمتونو تاريخونه

***************

د يو کار عيش او نوش هوسراني وي — د بل کار مجاهده وي قرباني وي
خطراتو نه هغه کله وېرېږي — چې يې برخه د تاريخ قهرماني وي

**************

تـه چـې هـر فکـر لـوې زه درتـه دومـره وایـم   کـه یـې وزرونـه وکـړل پـوه شـه مېړیـان ورکـوي
یوپه بل پسې لا څه چې یواوبل سره هم نه ځي   پداسې حا ل کښې زړونه خپل اطمینان ورکوي
ډېـرو خپـل پـل غلـط کـړ او پـه غلطـه لاړل   ملامــت نــدي خلــك کــه رهبــران ورکــوي
چـې نـا مطلـوب شـي وزیـر نـو سفارت ورکـوي   ګـوره هیـواد نـه څنګـه بـد بـد کسـان ورکـوي
چـې غریبـي ورکـه کـړي لـه کـور او کلـي ځینـې   د غریبانـــانو دښـــمن غریبانـــان ورکـــوي

چـه پـه ژبـه یـې څټـي هغـه یـې خوښ وي   پالېســي یــې پــه رښتیاچـه پالېســي ده
داخلــي سیاســت ډېــردی راټــیټ شــوی   زیربنادلوړمقـــــام قدمبوســـــــي ده
مینـوژوب کښـې چـه بازارتـه لوځـه اوزي   مــه وایـــه چــه یارانــه ئــې لباســي ده
نـامردان وائـي مـردی کښـې مـزه نشـته   خونـــدوره غوښـــه ګـــوره دخســـي ده
کـه" الفـت " ولاړیـوازې پـه میـدان دی   بېکســي ده هســې نــه چــه ناکســي ده

مـاوې هغـه دسرسـړی دې پـه ښـه نـوم یـاد یږدي   ده وې دټول اولس دپاره بس یوسرښه دی
مـا وې پـه یوسـرباندې کلـه ټـول کارونـه کېـږي   ده وې لـه سل سـرونه یوسرښکرورښـه دی
مـاوې ولـس بـه شـي بـې سـره کـه سـرونه نـه وي   ده وې زما دسردعاکړئ دی بې سرښـه دی
ماوې ولس ډیرخواروزاردی څه چاره ده په کار   ده وې جاهل دی اوجاهل تردې بترښـه دی

**د اجتماعي ستونزو او نا برابریو خلاف:**

پدې لار کښې غوایي اوس هم په موټرو کښې تیرېږي   خـو مـوټر تـه پـه ختلـو غـویي کلـه سـړي کېـږي
پـه سـپیتانه کـه هـر څـومره ترقـي د چـا نصـیب شـي   ځای یې بر مقام یې بر شي شخصیت یې نه لوړیږي

د یـــوه آســـوده ژونـــد کښـــې شـــرم او عـــار وي
د بـــل خـــوار او ســـاده ژونـــد کښـــې افتخـــار وي
فضـــیلت او تقـــوی نـــه وي ډېـــر ثـــروت کښـــې
ډېـــر مالـــدار ســـړی بـــه ډېـــر لـــږ ایمانـــدار وي

بـې تمیـزه خـدایږو سـترګې د جهـان دي   ډېر لېوان شته چې په ښه د انسان دي
حقیقـت چـې کانـدي څـوك لـه پښـو لانـدې   که مېږی هم آزار نه کړي ظالمان دي

استاد الفت سترګور او متعهد ادیب ؤ د هغه نظر ډېر لېرې ځار کوي هغه ویني چې اغیار یې د ځوان نسل د روزنې او ښوونې په پلمه د هغوی د بې لاری طرحې او نقشې تر لاس لاندې لري- د سر ماغزه یې مینځي او وران یې جوړوي:

پــه مدرســه کښــې د اغیــارو کلــه   څـوك د افغان ځوی نه افغان جوړوي
پـردی کلتـور پـردی لمسـون لـه سـړي   حلقـه بـه ګـوش د ایـن و آن جـوړوي

سر کښې څه نه پرېږدي ماغزه يې مينځي   د سر وينسته يې په ښه شان جوړوي
مود پرستي دومره غالبه شوه اوس   ځان خرخوي خو چا ته ځان جوړوي
غلط علاج نه بې علاجه ښه دی   ناجوړه ښه دی که يې وران جوړوي

د استاد د شاعرۍ بنسټيز اصل د ټولنې د نيمګړتياوو د سمون په لور دعوت دی د ظلم، نابرابريو، بې عدالتيو او محروميت پر ضد د خوځښت او پاڅون بلنه ده- د جهاد مفهوم او اصل د خپل شعري سفر دمه ځای ګرځولی-دا هغه وخت چې هره ليکنه او شعر يا دخيالي مينې په افسانوي لومو کښې ښکيل ؤ او يا د مدحې- ساتيرۍ او افراطي قوميت په تاو کښې سوځېده خو استاد د ولس او امت د بقا او سر لوړۍ راز جهاد ګڼه.
د جهاد او غزا تلقين يې کاوه او د جهاد او مبارزې د روح د خپراوۍ هڅه.
استاد د ابتدا نه پخپل فن کښې د جهاد او غزا مفاهيم او اساسات په ډېر عالي انداز کښې رانغښتی او د مسلمان د عظمت او بر لاسی راز او اساسي فريضه يې ګڼله.
زما په خيا ل چې استاد د يواځنی شاعر او ليکوال دی چې په هغو کرختو شرايطو کښې يې د جهاد نوم –مفهوم- مضمون او روح ته پخپلو ليکنو کښې ځای ورکړی له جهاد څخه يې خبرې کړی د جهاد او شهادت روح يې خپور کړی د مبارزې او مقاومت درس يې ورکړی. ده توره د اسلام د عظمت او اسلامي عدالت او نظام د قيام يواځينی وسيله ګڼلی او د تورې اهل يې هم يواځې مسلمان بللی او جهاد يې د اسلامي امت د بقا او سعادت بنسټيز راز او قوت. ځکه خو د تورې عبادت افضل او تر ټولو غوره عبادت معرفي کوي:

عبادت په توره خدای ته زيات له هر راز عبادت دی
د خپل سر ورکول وروره خدای له پاره لوی طاعت دی

که جنت د چا په کار وي
تورو لاندې يې مکان دی
آب د تورې بل شی ندی
همدغه آب حيوان دی

بل دتورې اهل نشته دا وسله د مسلمان ده
وسيله د حق پاللو او د نشر د قرآن ده

چې په توره مري شهيد دی
هغه نه بې پردې کيږي
چې بې تيغه وي مړ شوی په
تخته باندې لوڅيږي

بل ځای وايي:

توره حق او حقيقت دی — شريعت پرې رڼا کيږي
توري شپې د ملتونو — بې له دې نه سبا کيږي
همدغه شرف يې بس دی — چې په توره غزا کيږي
د ظالم او خدای نا ترسه — ورنه خوف او حيا کيږي

څوك چې شهيد شي د خپل دين او د وطن د پاره
د جنت حورې ورته راشي د ديدن دپاره

د خدای(ج) له لوری ورته ډېر آفرينونه راوري
بل له آسمانه د ملکو سلامونه راوري

نه محوه کيږي په هيڅ شان د ده د تورې رڼا
دده ميرانه نه هيريږي په هيڅ وخت کښې د چا

بل ځای د اسلام د حقيقي روح د تبليغ او د جهاد او مبارزې د دوام او همدارنګه د اسلام د اصيلو او ژونديو اساساتو د خپراوی او پدې اړه د مسلمانانو د اهما ل په اړه وايي:

ټول عالم خبردی چې خيرات کښې ثوابونه شته
ما ل کښې دغنيانو دمسکين، فقيرحقونه شته

څوک چې ملايانوته څه ورکړي ډېراجرونه شته
بې زکاته ما ل باندې داغل داورګورزونه شته

دامسئلې کړی واعظ مونږ ته شامدام دی
پټ يې چې ساتلې ځينې نورددين احکام دی

لمونځ موصحيح نه دی خونفلونه هرساعت کوو
دين نه خبرنه يوله ريا ډک عبادت کوو

نه کووعمل په قرآن تل يې تلاوت کوو
سل رنګه ګناه خدايږوپه رنګ کښې دطاعت کوو

زښت ډېرمهارت لروپه دغسې کارونوکښې
دین راڅخه ورک شوپه رسمواور واجونوکښې

حق ویل په حق ټینګ درېدل اصلی طاعت ګڼه
لاره کښې دخیرکوښښ کول لوی عبادت ګڼه

داته وظیفه دسرېتوب اوخلافت ګڼه
ظلم ورکول له ملکه دین اوعدالت ګڼه

سخت وي که اسانه چې دین وایي هغه کارکړه
ورانې کړې لارې کړه اوجوړه سمه لارکړه

دارنګه کارونه درښتیامسلماني غواړي
ګرانه وظیفه ده ډېره ټینګه دینداري غواړي

حق اوحقیقت پال تقوی ایمانداري غواړي
هرکارکښې دخدای لحاظ دحق طرفداري غواړي

څورکعته نفل کول شیخه ! دومره ګران نه دی
خدای خوشحالول جنت ګټل دومره آسان نه دی

د کربلا الهام تر عنوان لاندې پخپل الهامي شعر کښې چې د اسلامي امت له پاره یو تلپاته او ژوندنی پیغام دی د کربلا په حقیقت د یوه درس او عبرت په بڼه کښې د کربلا عظمت له یادولو سره د جهاد او خوځښت د داعي په توګه د دغه حادثې روح او د ژوند حقیقت دا ډول تفسیروي:

خاوندان د ارادوتل په جرئت مومي نجات      له خطرسره جنګونه حقیقت دی دحیات

نمرودان سوزوي اورکښې که دعصرابراهیم      حق پالونکوته نه ښائی چه باطل ته شي تسلیم

که یزیدپه کربلا کښې ظلم کړي له حده تېر      شهامت به دحسین څوک ترقیامته نکړي هېر

یزید نوم داستبداددی دسمبول په حیث جهان ته      حسین ډېراعلی مثال دی دایمان اهل ایمان ته

ظالمان په ایماندارونشي کړی حکمرانې      دظالم ظلم ته غاړه کله ږدي مسلماني

غرقیدونکی دی غرقیږي که فرعون دی که قارون    چه پیداشي په ولس کښې یوموسی اوبل هارون
دنمرودامرته غاړه نه ده ایښې ابراهیم    دفرعون قدرت ته کله تابع شویدی کلیم
اسلام نه منې هیڅکله دیزیدمتابعت    حسین سرشي ورکولی نه لاسونه دبیعت
محمد اومومنانوکول ځکه جهادونه    چه دخدای په لاره سم کړي دابې لارې قدرتونه
داسلام روح دی جهاد نارواسره عناد    حمایت دمظلومانو ورکول دهرفساد
هغه کله مسلمان دی چه خرکیږي ددجال    وظیفه دمسلمان ده له دجال سره جدال
چاچه یوقدرت منلی په جهان کښې دالله    اصلي کاریې دی جهان کښې جهاد فی سبیل الله
مومن کله شي منلی یومطلق آمریت    اولوالامرداسلام دی مقیدپه شریعت
مکلف په مشوره دی اولوالامرداسلام    بې نیازه مشورې نه کله وخیرالانام
په هغوتل مسلط وي ظلم جبرقهرزجر    چه په ظلم کوي صبراوله خدایه غواړي اجر
حقیقي مسلمان نه دی دا ایمان څه ایمان نه دی    چه حسین غوندې یزیدته ټینګ ولاړ په میدان نه دی
اسلام نردی اونرتوب دی شهامت زړورتوب دی    نه ژړانه انګولاده نه دظلم مرئیتوب دی
په یوازی ژړاباندی حسین کله خوشحالیږي    پیروی دحسین وکړه که حسین دې دپرخوښیږي
یزیدان څومره ډېرشوي یوحسین نشته جهان کښې    دجهاد درس چاوانخیست مهجورپاتې شوقرآن کښې
ومنل مسلمانانو داسلام اسان امرونه    سرسایه ورکوي خدایه! نه دحق لار کښې سرونه
نوافل ئې دي ټینګ کړي واجبات ئې دي هېرکړي    نوریې هرڅه دي ترک کړي او رادونه یې دېرکړي
داسې خواره زاره نه وه حقیقي مسلماني    څه شوه چېرته لاړه هغه دایمان قهرماني
مسلمانه! با ایمانه داغریب دین معتبرکړه    په دین سرورکړه او دین بیا دپخواپه شان سرور کړه
انتقام دحسین واخله دخپل عصرله یزیده    ورک دزمکې خدایان کړه الهام واخله له توحیده
حسین توئې کړلې وینې ته پرې اوښکې تویوې    ځای دوینو اوښکوونیو څه یې وکړه څه کوې؟
راشه ! بس کړه ژړاګانې ظالمان وژړوه    حسین ظلم قبول نکړترې مظلوم مه جوړه وه
دهغه سر، سرلوړې ده ددنیا چت نه اوچته    چه په مرګ ئی ځان خلاص کړی دذلیل ژوندله ذلته

په حسین باندی مه ژاړه په هغه مظلوم وژاړه　　چه ظالم ته تیتوي سر مظالموته ږدي غاړه

نن اسلام خدایږو شرمیږي په عمل دمسلمان　　په تش نوم باندې مومنه! داسې کله وایمان

سیاست اسلامي نه وي که اسلام وي سیاسي　　سیاست ددین خدمت کښې سیاست دی اسلامي

داسلام ډیوه چه مړه شي دزیارت ډیوه بلیږي　　دبی روحه اسلام قدر څکه ورځ په ورځ زیاتیږي

استاد الفت له یوې روحاني او ستانه کورنۍ سره تعلق درلود خو دی د مبارز روحانیت قایل ؤ نه د داسې روحانیت چې له مبارزې او سیاست څخه لېرې او د روحانیت پرده یې د خلکو د استثمار او رهبانیت له پاره پر مخ راکښلې وي هغه د رحمان بابا خبره:

دین یې دام وي د دنیا په لار کښې ایښی　　پرې را اړوي وحشیان د مخلوقات

څکه خو دی په زیارت کښې د ډیوې د بلولو په ځای دغه ډیوه د یوه بېوزلې په تیاره او سړه جونګړه کښې بلول غواړي او د ملیونرو خیرات خورو په وړاندې د وطن د لکونو بیوزلو او وږیو د کړاوجن ژوند ترخې خاطرې رامخې ته کوي.
د استاد فن د اجتماع له ښېګړو سره کلک تړلی دی- دی یوه لحظه هم له ټولنې او خلکو نشي بیلیدلی-د ده فکر او سوچ ټول د خپل ولس له پاره دی څکه خو د ده دشعر هر بیت او د لیکنې هره کرښه د پرګنو او ټولنې د شعور او مزاج نقشه کښلی شي او د تیارو په زړه کښې د ویښتابه د پیغام بله ډیوه:

فرق د حق او د باطلو لوی حکمت دی　　د دماغ او زړه همدغه عبادت دی
بې له پوهې بې له عدل او بې له رحمه　　په چا باندې روا کله حکومت دی
د یوه شخص نوکري خو غلامي ده　　لوی عزت د خپل وطن او قام خدمت دی
چې خپل ځان کښې خادم د خادمانو　　پدې راز ښه پوهیدلی نن الفت دی

استاد الفت د وخت د کرختو او کرکجنو شرایطو او د هغه په وړاندې د مبارزې د رغنده نهضت او خپل دریځ او عکس العمل دا رنګه ترجماني کوي:

نه مې دچامال خوړلی نه مې څوک وژلي دي

نه مې چاته ورک شه یاګم شو کله ویلي دي

نوره ګناه نلرم په دې ګناه مې مه نیسه

زړه کښې مې چې پټ ظالم ته بدغوندې کتلي دي

وخت داعتراف دی ګناه خپله درته وایمه

نه یمه منکرپه مظلومانومې ژړلي دي

داګناه دستر ګوکه دزړه ده نه پوهېږمه

بدمې چې لیدلی خدایږوبدمې هم ګنلي دي

نه ومه خبرپرده مې لږ غوندې چې جګه کړه

نه دي دویلوهغه څه چې مالیدلي دي

زه یې په لیدلواو ویلوګناهګارشومه

نوريي په کولواوعمل باندې ښاغلي دي

نه یمه خاین په خیانت دنوروپوه یمه

پوهه که ګناه وي خلق ټول اوس پوهېدلي دي

داچې ډېرکاږه درته ولاړدي تیټ سرونه هم

ستا مخکښې چې سم نشوه سم کله چلېدلي دي

هېڅ امیدترې مکړه که څوک ځان دتاغلام ګڼي

ماغلامانه ذهنیتونه پېژندلي دي

مور مخکښې و ویل چې استاد الفت له خپلې ټولنې څخه ندی بیل شوی هغه که رئیس هم ؤنو له خوارانو سره یې د زړه او فکر مراندې تړلې وې او د همدغه پاټکی نمایندګی یې کوله او که په شورا کښې وکیل ؤ هم یې د مظلوم او بیوزلی د زړه غږ او د ضمیر آواز غبرګاوه او د عالي طبقې او حاکمه دستګاه څخه یې خپل پریکړون او د آغا صاحب او بادار له نومونو څخه یې کرکه کوله:

زه بل څوك نه یمه اولاد د غریبانو یمه   سکنی ورور د عاجزانو او خوارانو یمه

یمه له خاورو نه پیدا خورمه له خاورو پیدا   د لاس نیالګی د کاریګرو دهقانانو یمه

ما ته آغا ما ته بادار ما ته صاحب مه وایه   ډېر ویرېدلی له نامه د صاحبانو یمه

چې ورته بل نیسي اوبه نور یې بې آپه غواړم — وینو ته تږی زه د داسې بادارانو یمه
د بل زحمت کښې چې خپل ځانته راحتونه غواړي — د سر دښمن زه د بې رحمه ظالمانو یمه

بل ځای وایي:

عاقبت به یې سیلاب د اوښکو یوسي
چې خواران او غریبان چا ژړولي
د ښایست بهار څو ورځې وي دنیا کښې
بیا له تازه راکوزیږي نازولي
زمانه به یې د نورو خندنی کا
چې یې هر وخت په خوارانو دي خندلي
د دې دهر هر څه تلوني دی پوهیږم
ځکه ما ترینه لاسونه دي مینځلي
ځکه ما زړه بل عالم پورې تړلی
دې دنیا ته مې په بد نظر کتلی

د استاد مشاهده ډیره ژوره او د مطالعې احاطه یې د فطرت د وسعتونو په اندازه وه-دی هغه څه ګوري چې ظاهر بینې سترګې یې نشي لیدلی:

ګورم جهان کښې څوک کعبه ځینې بوتان جوړوي
غلطه پوهه له سړي ځنې شیطان جوړوي
دسړوکاردی چې دخپل وطن کارونه جوړ کړي
جونه اوپېغلې سینګارونه کوي ځان جوړوي
تهذیب ضروردی نظافت اوښه لباس دی په کار
فېشن که زیات شي له ځلموبازینګران جوړوي
دودانی امیدله هرچانه کېدلی نشي
له خاوروګټوشه کورونه معماران جوړوي
چې انساني رڼا پیداشي په مغزوکښې دچا
هغه کوښښ کړي په عالم کښې انسانان جوړوي

ډېرتفــــــاوت شـــــــته پـــــــه انســــــان کښـــــــې دمعناپـــــــه لحــــــاظ

واړه مشـــــــغول دي ځينــــــې ځــــــان ځينــــــې جهــــــان جــــــوړوي

استاد الفت د موجوده ويښوونکی خوځښت او بريمن حرکت دا ډول پيش بيني کوي او زيری ورکوي:

بلې لمبې زمـوږ په زړونو کښې مړې شوي دي اوس
بيـا بـه تـازه شـي مـړه اورونـه لـه سـکرونه نـه ځـي
بيـا بـه اور بـل کـړي د ظـالم او د دښـمن پـه خونـه
د انتقــام جذبــه زمــونږه لــه ســينونه نــه ځــي
کـــه پـــه برهـــان او دلايلـــو فيصـــله و نشـــوه
غوڅـه او پريکـړه د چـړو تـورو لـه خولـو نـه نـه ځـي

د استاد فن پند دی-درس دی-پوهه دی-او زده کړې، تجربې، مشاهدې او تفکر مدرسه:

دنظرخاونــــــــــدان نــــــــــه شــــــــــې غولــــــــــولی

ددنيـــــــا نــــــاوې کــــــه هرڅوځـــــان ســــــينګارکا

دمېړونــــــــــو افتخارپــــــــــه نورڅــــــــــه بويــــــــــه

ښــــــــځې فخرتــــــــل دســــــــرو زروپــــــــه هارکــــــــا

دانســــــــان نظرچــــــــې لوړشــــــــې ترافلاکــــــــو

نظرکلــــــــه پــــــــه درهــــــــم اوپــــــــه دينارکــــــــا

چـــې پـــه مـــا ل او دولـــت نـــه شـــي خـــوک بـــې لارې

آفــــرين يــــې پــــه همــــــت اوکاروبارکــــــا

دنيـــــا ښـــــه ده مګرفخــــــــر لـــــــره نـــــه ده

چـــې مغرورپـــه مـــا ل دولـــت شـــي ځـــان بـــه خوارکـــا

ډيـــره ښـــه ده کـــه پـــه ښـــه لارکـــې صـــرفېږي

ډيـــره بـــده ده کـــه جوړتربنـــه زنارکـــا

عاقلان یې وسیله واسطه بولي

ناپوهان یې لیاقت لره معیار کا

استاد الفت د دعوت ځانګړی اسلوب او د مبارزې خاصه لار لري دی له فساد او مفسد، ظالم او ظلم، استبداد او مستبد سره د مقابلې له ډېر مؤثر او ځواکمن سنګر څخه لاس او ګریوان دی:

په ګودر پېغلو منګي خپل ډکول
یو منګی د ډکیدو وخت کښې ویل
تږي نه یو اوبه ښو خو نه پوهیږو
چې څه راز به وي د تږو اوبه ښل

په رښتیا چې ځوك منګی غوندې ډکیږي — وږو تږو له احواله څه خبریږي
په کندوانو ځوك پږه نشي اچولی — که په لوږه د خوارانو نه پوهیږي

هو! د استاد فکر او مشاهده ژوره او نظر یې پراخ دی- دی ژوند، دنیا او ما فیها ته د زړه په سترګو ګوري او هغه څه ویني او بیانوي چې نور یې نشي لیدلی، د ده نظر لدغه مادي او ظاهري دنیاګی نه اخوا ډېر لیرې د وسعتونو د کچ میچ جاج اخلي او له دغه سفر څخه له یوې معنوي توښې سره راستنیږي:

دایمان دخاوندانو داباوردی
چې یوپُل په سمه لارکښې دمحشردی
بدان نه شي تیریدلای تري هېڅکله
دنیکانوصالحانوپرې ګذردی
ورنه تیرشي ځوک چې ځای لري جنت کښې
ورنه لویږي چې اصلي ځای یې سقردی
که پوهیږی دغه پُل شته په دیناکښې
خوعالم لږځه غافل اوبې خبردی
په صراط المستقیم باندې تله ګران دی
دجنت په لورې تګ مشکل سفردی
تیریدل له هوسونو اسان نه دی
بوالهوس ته دغه سدسکندردی
له نفسي خواهش نه هغه تیریدای شي
چې دنفس په خواهشاتوزوروردی

په شهواتوچې قدم ږدي اوتېرېږي
همدغه پُل د صراط اودمحشردی

په دې لارکښې لوړی تندی سرباېلل شته
حق دپاره سرو اورونوته لوېدل شته

استاد د ژوند په هیڅ یو پړاو کښې د خپل اصلاحي دعوت او مبارزې لار نده یرې اېښی له بې کفایته رژیمونو او ټولنیزو نیمګړتیاوو- بې عدالتیو او نابرابریو سره یې منطقي اغیزمنې او دوامداره مبارزې ته دوام ورکړی داسې چې نن هم د دوی فن د وخت په شپېلی کښې د مبارزې او خوځښت په لار کښې د یوه انقلابي پیغام او حرکت حیثیت لري.
پدې اړه د ده همدا یوه خبره وه:

که مې سر شي د هاتي د پښو لاندې
که له پاسه مې راغورځوی د لاندې

تور ته سپین نشم ویلی سپین ته تور زه
دا امید دې څوك له ما نه هیڅ نه کاندی

لنډه دا چې استاد الفت د حالاتو په غور ونو کښې د زمانې شعر ته د خپل وخت او خلکو په ژبه غږ کړی له همدې ځایه ده چې په یوه بڼه نه یوه بڼه د پښتو د موجوده ادب په هره څانګه د استاد دفن اغیز پروت دی او کومې لارې چې دوی په نښه کړی په هغو باندې د پښتو ادب د پر مختګ د کاروان سفر په ډېر بریالیتوب سره روان دی.
په پای کښې د حسن اختتام په عنوان د استاد د وصیت تر عنوان لاندې شعر سره خپلې خبرې رانغاړم:

| | |
|---|---|
| غواړمه چه مرګ مې وي په شان دیوفقیر | نه دې پکښې ویروي نه دخلکو ډیربهیر |
| نه دې راډیو کښې وي زما دمرګ اعلان | نه دې وي زماپه قبرخان وبیګ اومیر |
| خاورته دې وسپاري ماهغه دهقانان | هغه چه کري تخم او وړي خیرکثیر |
| نورڅه نه وړم عجزاونیازبه وړمه خدای ته | رحم اوکرم ته به ئې وړم عذروتقصیر |
| لاس کښې که څه نه و، چه نهروړي ماړه کړمه | زړه کښې خوځه و، چه ئې په دوئ کړمه زهیر |
| ښه به وي که لږمې داتیاره قبررڼا کاندي | که مې رڼاکړی وي دچاذهن اوضمیر |
| مکړئ دریادپاره ماپسې خیرات | ځان پسې نه غواړم خیراتونه چشمګیر |

ورکـړۍ غریبانوتـه کـه وي زمـا څـه مـال　　　پټ غوندې له خلکوچه پکښې نه وي تشـهیر

خـدای تـه ډیرنـژدې وي لـه هرچاڅخـه "الفتـه"!　　　هغـه چـه دنیـا کښـې وي غریـب خـواروحقیر

د مرحوم سيد شمس الدين مجروح ليکنه

# د ګل پاچا الفت يادونه

الفت (خداى(ج) دې وبخښي)زما د ډيرې مودې آشنا ؤ.
زما او دده په منځ کښې اشنائي د ځلمي توب د وخته شروع شوې وه او د ده تر مړينې ئې په همهغه تودښته دوام و کړ. او اوس هم زما په زړه کښې د هغه مينه او احترام هماغسې ځاى لري. دا بې پروا او زړور شاعر چې اشعار يې په انتقاد او سپينه وينا ډک دى ډېر محجوب سړى ؤ. دغه شاعر او وينا کوونکى چې تر اوسه مونږ سره د شعر په ژبه ګړيږي ډېر کم ګويه او خاموش سړى ؤ، بې ضرورته خبرې يې نه کولې او هميشه به يې د بل خبرو ته غوږ ايښود ډېر ظريفه طبعه ئې لرله، ښې د مزې ټوقې ئې کولې خو د ده په ټوقو او ټقالو کښې هم ادبې نکات پراته وه او زيادتره ئې ادبي تنز ؤ. (هغه عاميانه او سپکې ټوقې مسخرې نه وې). د ده تحصيل په ديني علومو کښې په فقه کښې وه او په صرف او نحو او منطق کښې ئې هم تحصيل کړى ؤ. په ځوانى کښې ئې شعرنه وايه او د ادب خوا ته يې توجه نه وه مګر د تحصيل څخه وروسته ورته نا څاپه د شاعرى جذبه پيدا شوه او دا قريحه يې راژوندى شوه او داسې راژوندى شوه چې د سيلاب غوندې روانه شوه.
ده چې به کوم شعر وليکه د چاپ د مخه به يې ما ته ولوستلو او زما نظر به يې پکښې غوښته او ما به غير د تحسين او آفرين نه بل نظر نه لرلو.
د ده شعر په پنځو برخو (حد اقل) ويشلاى شو:
(۱) زياته برخه يې سياسي او اجتماعي انتقادونه دي چې په محيط کښې د اجتماع د ويرې او د قدرت د خاوندانو د ويرې چا غږ نه شو کولاى ده په ډېره آزادى د خپل اواز جګ کړى ؤ.
(۲) دوهمه برخه يې د بې وزلو ، مسکينانو او يتيمانو سره همدردي او په شتمنو انتقاد دى چې د دوئ د حاله بې خبره دي پدې برخه کښې دومره د سوزه ډک آوازونه شته چې سړى ژړوي او د خپلې اجتماع په بې عدالتى سړى قانع کوي.
(۳) دريمه برخه يې د رياکاره زاهدانو او ملايانو غندنه ده او پر هغوئ هم په ډېره بې پروايي انتقاد کوي او په هغوئ پورې په ډيره بې باکى خاندي.
(۴) څلورمه برخه يې حمد، نعت او ديني او مذهبي احساسات دي چې ځاى په ځاى څرګنديږي او دا جذبه خو د ده په نهاد کښې دومره ښخه پرته وه چې دغه نورې برخې يې زيات غوندې کار ښکاري.
(۵) پنځمه برخه يې عشق او جما ل دى چې دا خوا که پکې لږه ده مګر ډېره خوږه ده.
د ده سترګې ډېرې تيز بينې وې او په ډېرو ورو شيانو کښې يې غټه معنى پيدا کوله. د ده سترګې ډېرې مړې وې او هيڅ طمعه او توقع يې د چا څخه نه لرله او هم د خپلې ګټې وټې په فکر کښې نه ؤ.
د ده ثبات او استقامت په اخلاقي خوا کښې او هم په ناسته او ولاړه او آشنايي کښې دومره نا قابل تغير ؤ چې د طالبعلمى د وخته رانيولى تر وزارته پورې هم هغه يو شان سړى ؤ.
د ده د پاره په ژوندون کښې د سلوك او رفتار معيار، او د اخلاقو مثالي (ايډيالي) معيار، او د شعر معيار دا دى چې دى يې پخپل دې شعر کښې ښکاره کوي:

# د شاعر نظر

زه يې پېژنم شاعر دی بل څوک نه دی

چې دالوی جهان ورٍوکی ورته ښکاري

د وريښمواو زربفتو ښايسته ټوکی

دناداان په تن زروکی ورته ښکاري

طوفاني درياب ګڼي دمظلوم اوښکې

ددنيا بحرډنډوکی ورته ښکاري

چې خپل نفس نشي وژلی که سل وژني

نا توانه وېرندونکی ورته ښکاري

ددنيا فاني عيشونه نعمتونه

دسپي مخکښې پروت هډوکی ورته ښکاري

او په اجتماعي انتقاداتو کښې په يوې نازولې پېغلې په داسې ادبي الفاظو انتقاد کوي، (چې د شته منۍ او مسکينۍ خوا ته هم اشاره لري)نو داسې وايي:

ورودې خواري اومزدوري کوي له پلاره سره

تاپه مستۍ کښې امېل وشکاوه له ياره سره

موردې مېچنې ګرزوي خوردې منګې ډکوي

ته سورپېزوان غواړې دسروزروله هاره سره

ده غريبې خواره خواري کورکښې څه نه دي پاتې

مه کوه لوبې له درهم اوله ديناره سره

دلته دښځو په سرخاورې دي دنازمېرمني
تایارانه ده اچولی دنیا داره سره

د ریاکارانو سره یې د جنګ جدل یو څه خبرې هم واورئ چې وایي:

## ریاکاره!

ستا ټول کارونه خدایرو دي برای نام غونددې
رامعلومیږي ستافکرونه راته خام غونددې
هغه کارکړې چې سادګان وربانددې ژرغولیږي
دقام خادم نه یې دنورويې غلام غونددې
په ټول عالم دی سپین سباشپه شوه د ټولو سحر
په تاراځي نوی تیاره اوس دماښام غونددې
دپښوغل خلقودمخه کړچې غلاونکړي
اودس یې نه ؤ په لمانځه کې شوامام غونددې
داسې مونځونه دی ډېرکړیدي دخلقومخکې
نیسې روژې خوروژه ماتی وي حرام غونددې
څادردې سپین لکه سبادی پخپل سرخورکړی
مخ دې چې ګورم راته ښکاري تورماښام غونددې

بل ځای د حقیقت د ورځې تر عنوان لاندې د قیامت تصویر و باسي چې هلته به هر څه افشاء کیږي، نو وایي:

چې پلوله مخه لرې دهرچاشي
دارنګینې جامې څیرې دریاشي

حقایق ټول رابهرشي له حجابه
پټ کارونه راڅرګندزمااوستا شي

مقصدونه، غرضونه، عملونه
بې پردې اوبې سیرته برالاشي

دهرچا زړه کې چې هرڅه وي لیکلی
دی پخپله دهغه نقش ګویاشي

هغه دغه ښه اوبدمخونه لوڅ کړي
توره شپه له مینځه لاړه شي سباشي

ډېرښایسته اوسپین مخونه به تک توروي
ډېرښاغلي به په دغه ورځ سرتوروي

د ده نثر هم د شعر غونډې فصيح او ادبي دی او د يو خاص سبك خلاق ورته سړی ويلای شي د ده په شعر او نثر ډېر څه سړی ليکلای شي او ډېر تحليل کولای شي خو هغه به نورو ته پرېږدو.

د قلم د مجلې څخه

شمس الحق پيرزاده

# الفت څوك ؤ؟

نحمده و نصلی علی رسوله الکريم و علی سائر الانبياٴ و المرسلين

اُف د بېقدره زماني له لاسه د قدر خلك هديرو كښې پټ شول
چا ويل چې لعل ايرو كې نه پټېږي خو نن لعلونه په ايرو كښې پټ شول

پرون دې ما باندې خزلې لوستى تا اچولو په ما ګرد او غبار
نن چې پخپله شوم په خاورو كښې پټ ستا شوې زما د قبر خاورې پكار

(پير ګوهر)

هو! د زماني استغنا او د بې شعوره يا كم شعوره وګړو عدم احساس ډېر ځله دا كار كوي چې د وخت ډېر نامتو اشخاص معنوي هستې او علمي ذخيرې له ياده باسي د ژوندانه په حال كښې يې په قدر نه پوهېږي لا څه چې د خپلو ډېرو وړو وړو شخصي ګټو يا يې اداري او سياسي موقفونو ته د دغسې عناصرو د موجوديت او پايښت په صورت كښې د احتمالي خطر د نشئت په بنا له منځه وړي- فرار او تبعيد ته يې مجبوروي يا نور ډول ډول مزاحمتونه او ستونزې ورپېښوي ولې كله چې دغسې يو مقيد موجود معنوي هستې او علمي شخصيت د حرمان په حالت يا د تبعيد په عالم كښې له ژوندانه سره مخه ښه وكړي نو د سياسي ملاحظو په غرض يې د معنوي اقدارو په پلمه څو كاله وروسته د قبر خاورې هم پكاريږي او را انتقالېږي. خو داسې اشخاص هم شته او پيدا كيږي چې يوازې او يوازې د علم او معنى جوهر د وګړو د پېژندګلوي په برخه كښې يواځينى معيار ګڼي او د ژوند او مرګ په حالت كښې يې په همدغې تله تلي او بس. څوك چې پخپله د قدر خاوند وي هغه د بل په قدر پوهېداى شي د عزت خاوند د بل عزت هم د عزت په سترګه ګوري او چې خپله ابرو لري نو د بل د ابرو قيمت هم ورسره وي د نن سبا څخه لا پخوا يعنې زما د هجرت له ابتدا سره سم ما خپل قلم د نثر يا نظم په لړ كښې د ځينو عواملو په سبب ماتْ ګڼلیو خو چې كله مې د جهادي څېړنو د مركز د رئيس او د اسلامي حكومت د ښوونې او روزنې د وزير مجاهد او محترم دكتور غلام فاروق اعظم په امضاٴ هغه مكتوب ولوست چې يې زما په نوم ليكلى ؤ او غوښتنه را څخه شوى وه چې د افغانستان نامتو اديب، ليكوال، شاعر او ممتاز علمي او سياسي شخصيت مرحوم ګل پاچا (الفت) په هكله د قلم مجلې د فوق العاده ګڼې چې د همدغه نوميالى علمي شخصيت په وياړ په ځانګړي توګه چاپ ته سپارله كيږي، څه وليكم نو له يوې خوا مې د ډېرې خوښى موجب او

له بله پلوه مې د امتنان نه ډك اطمينان په برخه شو پدې يعنی چې اوس هم په معنیٰ مين خلك شته چې د معنیٰ د اهل قدر كوي او غواړي چې نمونه يې ژوندي وساتل شي نو ځكه مخكښې لدې چې په مرحوم الفت د خپل كوډ مات قلم په ذريعه څه وليكم د خپلې خوښې څرګندونه ضروري راته ښكاره شوه او د لوی خدای(ج) څخه محترم او مجاهد ورور ډاكتر فاروق اعظم ته د لا زيات توفيق او بريالیتوب غوښتنه كوم چې د افغنستان د نورو پوهانو او علمي شخصيتونو په هكله هم دغسې مفيد قدم واخلي.

## الفت څوك و؟

د خدای بخښلی الفت نوم ګل پاچا دی چې د ده پلار مير سيد پاچا اصلاً د لغمان ولايت د قرغيو د ولسوالۍ د درهٔ فرنګ نومی كلی اوسېدونكی ؤ. مير سيد پاچا د هغه وخت د ايجاباتو او شرايطو سره سم د قرغيو د ولسوالۍ يوې بلې محلې ته چې د عزيز خان په كڅ يادېږي، راغی او همدلته مېشته شو ورو ورو زمانه تېرېده او د مير سيد پاچا اړيكی د عزيز خان د كڅ له اوسېدونكو سره ټينګېدې او پخېدې تر دې چې همدلته يې عمري ژوند اختيار او خپل كور يې هم د عزيز خان په كڅ كښې ودان كړ.

په ۱۲۸۸ هـ.ش كال كښې خدای(ج) زوی وركړ چې ګل پاچا نوم يې ورباندې كښېښود شپې ورځې د خپل تعامل مطابق تېرېدې. مياشتې جوړېدې او په كلونو بدلېدې. ګل پاچا هم د انساني طبيعت په تقاضا لوېېده تر څو چې د سبق د ويلو شو او خپلو همځولو سره به د هماغه وخت تدريسي رسم سره سم جومات ته تلو او تر هغه ټاكلی وخته به ئې خپل سبق وايه. كال دوه وروسته ګل پاچا له خپلو ټولو همځولو او هم سبقو څخه مخكښې شو. لنډه دا چې ګل پاچا ډېر كم وخت كښې د ډېرو غټو كتابونو ويلو ته جوړ اود وخت ممتاز استادان به د هغې خاصې ذكاٴ او مواهبه يې استعدد له بركته چې قدرت وربخښلی ؤ ده ته هر وخت په يو خاص امتياز قايل وو. ګل پاچا د صرف، نحو، فقه، اصول فقه، معانی، بديع، بيان، منطق، حكمت، رياضی، فلسفې، علم كلام، حديث، اصول حديث او تفاسيرو كتابونه د ننګرهار او لغمان له مشهورو استادانو څخه وويلی.

ماته (ليكونكی ته) د نومړی ګل پاچا (الفت) د ځينو استادانو له خولې او څه د مرحوم الفت له خپل اظهار څخه دا معلومه ده چې مرحوم الفت به په تحرير كنديا كښې چې د منطق يو كلك كتاب دی اته مخه يعنی په وخت كښې څلور پاڼې سبق ويلی او په كال كښې به يې لكه څنګه چې اوس رسمی درسي پروګرامونه دي مرحوم الفت هم خپل كتاب په نهو مياشتو تقسيماوه او په همداغه تعين شوی وخت كښې به يې آخر ته رساؤ چې د كتاب له ختمه وروسته به يې درې مياشتې د ماغي تفريح كوله او سبق به يې نه وايه. كله چې پورتنی ذكر شوی متداوله علوم پای ته ورسېدل او د مطالعې له لارې يې په ځان د مسائلو د حل او اجرا اعتماد حاصل شو نو د نورو علماو په څير يې په امامت او تدريس ځان مشغول نكړ بلكه په رسمی دوايرو كښې يې ځانته د يوه رسمي ماموريت په لاس راوړلو تكل شروع كړ چې په ۱۳۱۴ هـ.ش كال كښې د انيس د ملي ورځپاڼې په دفتر كښې د كاتب په حيث رسمي ماموريت په لاس ورغی. لكه چې پورته ليكل شوی چې مرحوم الفت د يوه مواهبه يې خاص استعداد خاوند ؤ همدا راز د يوې خاصې ليكوالی او شعري روانې قريحې څښتن هم ؤ. نومړی چې څومره كتابونه په هر فن كښې لوستی او د لوستو له اندازې څخه په زياته پيمانه په زړه كښې پرې پوهېدلی ؤ همدا وجه وه چې ده د خپل ماموريت سره سره د خپل علمي طاقت په وسيله په ادبي، اجتماعي، سياسي او انتقادي مقالو، مضامينو او اشعارو سربېره علمي تاليفات او تصنيفات هم د كتابونو او رسالو په شكل وليكل چې ځينو تاليفاتو يې مطبوعات جوائز هم ګټلی.

لدې امله چې د هغه وخت قيودو مطبوعاتي فضا يوه اندازه له اختناق سره مخامخه کړې وه د مرحوم الفت ټول آثار نشو چاپېدای. کله نا کله به چې زمينه څه ناڅه برابره شوه نو يو نيم اثر به يې چاپ شو چې چاپ شوی کتابونه او رسالې يې په لاندې ډول دي:

د پسرلی نغمه، بله ډيوه، لغوي څېړنه، پښتو سندرې، عالی افکار، ليك پوهه، ادبي بحثونه، پنځم جلد کلی په دوو جلدو کښې، د آزادی پيغام، غوره اشعار، غوره نثرونه، منطق، لوړ خيالونه زوړ فکرونه، اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو کښې، د الفت خبرې، اجتماعي نظريات، د زړه وينا، املا و انشأ.

نا چاپ شوی کتابونه يې:

نوی څرك، ښه لمسون، نوی سبك نوی ادب، څه ګورم او څه اورم.

ترجمې يې:

د ټولنې علم، د موفقيت لیار.

مرحوم الفت به هر وخت غلی او چپ ښکارېده او هر وخت به که سړی ښه ورته ځير شو نو د پوره سنجيدګی نخښې نښانې به يې پکښې ليدلی او چې څوك به لږ څه هم د فکر خاوند ؤ نو په مرحوم الفت کښې به يې زياتره وختونه ډېر غټ فکري مد او جذر محسوساوه چې پخپله مرحوم الفت هم د څه لرم تر عنوان لاندې شعر کښې دا مطلب داسې څرګندوي:

نـــه وايـــم دا چـــې نـــوی نـــوی لباســـونه لـــرم

زړه خـــولی مـــې ده پـــه ســـر نـــوی فکرونـــه لـــرم

د احساســاتو او شــعور پــه غونــډی ناســت يمــه زه

پـــه عـــالمونو پوهـــه ويشـــم خيراتونـــه لـــرم

ځـــان ســـره پټـــې مرکـــې پټـــې جرګـــې دي زمـــا

پـــه پټـــه خولـــه خلکـــو ســـره زه مجلســـونه لـــرم

هـــر چاتـــه چـــوپ او غلـــی شـــانته معلومېږمـــه زه

څوك نه پوهېږی چې په سر کښې څه شورونه لرم

را ســـره شـــته دی ســـوداګانې د عـــالم غمونـــه

يـــوازې نـــه يـــم پـــټ پـــه زړه کښـــې جهانونـــه لـــرم

د خدای بخښلی الفت اشعار دی او که نثرونه تر هر نوم او عنوان لاندې چې وي حتماً به یوه نتیجه لري چې د تحلیل په پای کښې ثابتیږي چې پدغه شعر یا مضمون کښې د مراد ټکی د جامعې اصلاح او یا ذهني تنویر وي.

مرحوم الفت د شعر او شاعرۍ په ډګر کښې د فصاحت او بلاغت په لحاظ له هر چا بریالی او اشعار یې د فصاحت او بلاغت مخکې ترازو په تول پوره درنښت او وزن لري د نومړی په مضامینو کښې له حشیوی او تطویل نه پوره ځان ژغورنه شوی او اشعار یې له لفظي او معنوي تعقیدونو څخه خلاص دی چې عوام او خواص یې بې تکلیفه په مطلب ډېر ښه پوهېدای شي او هر څوك د خپل ذوق او استعداد په اندازه خوند ځینې اخلي.

مرحوم الفت هغه عالم، ادیب او شاعر ؤ چې خپله جامعه یې ډېر ښه عکاسي کړېده او د تل لپاره یې د ظلم په مقابل کښې قلمي مبارزه جاري ساتلې او هېڅ وخت د ظالم له ظلمه او استبداده ندی ویرېدلی مثلاً مرحوم الفت د بې عدالتیو او حق تلفیو د مخنیوی په منظور له یوې خواتېرې کوونکی عناصر داسې پوهوي:

آه او فریــاد د چــا لــه لاســه دغــه خلــك کــوي

چېرې بې رحمه خدای نا ترسه ظالمان کـه نـه وي

دا میدانونــه ولــې ســره دي پــه ســرو وینــو بانــدې

پـه هر هېـواد کښـې شرمښـان یـا قصابان کـه نـه وي

لکــه واړه پــه څــو پیســو بانــدې غــولېږئ ولــې

پـه خـوی او عقل دا لـوی خلك ماشـومان کـه نـه وي

او له بله پلوه د جامعې بې تفاوته یا بې التفاته طبقې ته داسې تشجیعي او تنبیهي اخبار کوي:

حـق او باطـل نـه معلـومېږي حـق بیـان کـه نـه وي

ظـالم تـه هـیڅ نشـی ویلـی ټینـک ایمـان کـه نـه وي

پنځــو روپــو بانــدې یــې ولــې هــره ورځ خرڅــوې

دیــن او ایمــان دې مســلمانه ډېــر ارزان کــه نــه وي

ولې د ده په نظر د متجاوزې طبقې پوهول او د بې تفاوته عامې طبقې را ويښول او بيدارول هم کافي ندی بلکه غواړي چې د جامعې منوره مسئوله طبقه په توبيخي الفاظو پوهه او خپل اجتماعي مسئوليت ته يې داسې متوجه کړي:

ولــې لــه ظلــم او نــاروا ســره جهــاد نــه کــوي

دا پــه نقلــو بانــدې ولاړ رياکــاران کــه نــه وی

ســتوری د ديــن بــه درتــه وايمــه مــلا صــاحبه!

دا ريــا کــار او بــې عملــه ملايــان کــه نــه وی

مرحوم الفت د يوه ډېر پوه، تجربه کار او ماهر استاد په دود خپلې جامعې ته د غلط فکر تعريف په ضمني او اخباري خطاب کوي او خلك داسې پوهوي چې دلته د مترقی، ارامی او بالاخره د لياقت معيار څه شی دی نو د غلط فکر تر عنوان لاندې داسې ليکي:

وران کــار بــه ودان ګڼــې دلتــه کــه اوســېږې تــه

حــق ويــل بــه زيــان ګڼــې دلتــه کــه اوســېږې تــه

ورځــې تــه بــه شــپه وايــې چــا کــه ورتــه شــپه ويلــې

تــور بــه ســپين شــيان ګڼــې دلتــه کــه اوســېږې تــه

هيڅــوك ملامــت نــدی وران کــه ټــول کاروانــه شــي

خپــل قســمت بــه وران ګڼــې دلتــه کــه اوســېږې تــه

ټيټ خلك به جګ ګڼې ناست که په جګ ځای کښې و

زمکــه بــه اســمان ګڼــې دلتــه کــه اوســېږې تــه

هــر چــا چــې هــر څــه کــول تــه بــه صفتونه کــړي

هــر يــو بــه لقمــان ګڼــې دلتــه کــه اوســېږې تــه

او همغه شان د صحيح فکر تر عنوان لاندې پداسې عباراتو ليکنه کوي چې د عباراتو اقتضايې ډېره لويه قرباني ده او لوستونکی پدې پوهوي چې صحيح فکر هغه دی چې د حق طرفدارۍ پرې تامينېږي او دغه فکر که د خپل سر په قيمت هم ساتل کېږي بايد وساتل شي، نو داسې ليکي:

کـــه مــې ســـر شـــي دهـــاتي لـــه پښـــو لانـــدې

کـــه لـــه پاســـه مـــې راغورځـــوی د لانـــدې

کـــــــه د زور او زورورو لــــــــــه هيبتـــــــــه

دغـــه زمکـــه او اســـمان شـــي لانـــدې بانـــدې

تورتـــه ســـپين نشـــم ويلـــی ســـپين تـــه تـــور زه

دا اميـــد دې څـــوك لـــه مـــا نـــه هـــيڅ نـــه کانـــدی

داوې د مرحوم الفت د څو اشعارو څه نمونې چې ما دلته نقل کړې او د مرحوم الفت د مبارزې او د ملت د رابيدارولو ثبوت ځينې په پوره وضاحت کېږي. د مرحوم الفت شخصيت د ده په څو نمونه يې اشعارو او يا مقالو کښې نشي خلاصه کېدای بلکه زما په نظر که چېرته د الفت پېژندنې تر عنوان لاندې د نوموړی په اثارو په تحليلي صورت او په شخصيت يې په تحقيقي شکل ډېر پوهان کار وکړي شايد ډېر غټ غټ، ضخيم ضخيم کتابونه پرې وليکل شي ولې دا چې دلته د ايجاز په توګه د هغه مرحوم د ياد بود په خاطر څه ليکل کېږي دا به يو موټی د خروار نمونه وي.

علم او تصوف يې:

مرحوم الفت لکه څنګه چې د خپل وخت يو ممتاز عالم ؤ همداراز يې له واقعي تصوف څخه هم په پوره او په زړه پورې برخه درلوده. د علميت په برخه کښې يې همدومره کافي ګڼم چې ووايم که چېرته د خدای بخښلي الفت هغه کتاب مطالعه کړی شي چې اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو کښې نوموړی شوی دی حتماً به هغه چا ته چې پخپله د علم خاوند وي او تحليلي ملکه لري دا ثابته شي چې مرحوم الفت په کومه پيمانه علمي شخصيت ؤ، او يا يې په معقولو کښې د منطق په نوم کتاب تر نظره تېر شي همداراز د ادبي بحثونو په نوم کتاب يې که وليده شي که څه هم د دغه کتاب نوم ادبي بحثونه دي خو د اصول فقه په ډېر ژور بحث حاوي دی چې اصوليون د مطالعې په شرط خامخا د مرحوم الفت په عملي قوت او طاقت اعتراف ته مجبوروي.

مرحوم الفت يو عامل عالم ؤ پدې معنی چې خدای بخښلی الفت د اسلام د مقدس دين په هکله څه ليکلی يا يې ليکل په تمامه معنی به يې هغه په ځان عملي کول او بې عمله مسلمان به يې د اسلام له چوکاټه قسماً د باندې ګاڼه او استدلال به يې دا ؤ چې:

ادخلو فی السلم کافه. يا دا چې که تا سو قرانکريم په غورو ګورئ نو په هر ځای کښې به دا په نظر درشي:

ان الذين امنو و عملو الصالحات.

يعنی هر چېرته له ايمان سره صالح عمل جوخت راغلی.

خدای بخښلی الفت به يې عمله اسلام ته بې روحه اسلام ويلی او دا به يې اضافه کوله چې سر بېره په فرايضو هم مسلمان نور ډېر زيات مکلفيتونه لري چې که يې په ځای نکړي نو د الهی عذاب سره يې د مخامخ کېدو ويره موجوده ده چې پدې برخه کښې به يې قرآنی نصوص په ګوته کول يا چې مرحوم الفت هر مسلمان د عمل په تله تاله په يوه شعر کښې چې د پخواني او اوسنی مسلمان په هکله په مقايسه يي توګه ليکل شوی د پخوانی مسلمان په هکله داسې ليکي:

لـــوی جهـــاد شـــروع شـــو چـــې پـــه الله اکبـــر بـــه

زمکـــه لـــه هيبتـــه لکـــه پاڼـــه رېږدېدلـــه

او د اوسنی مسلمان په برخه کښې داسې ليکي:

نـــن هغـــه قـــوت دی کلـــه پـــاتې مســـلمان کښـــې

هغـــه روحيـــه مســـلمان کلـــه وســـاتله

نـــه لامبـــې اوس وينـــو کښـــې مسلـم شـــو د اوبـــو مهـــي

نـــه ورکـــوي ســـرخو ســـر ســـايه يـــې ومنلـــه

هغـه طاعـت نکـړي چـې پکښـې يـو څـه تـاوان وي

لمـونځ کـړي خـو ذکـات بانـدې يـې خېټـه واچولـه

تش د خـولې په ذکـر خدايـه ستا خوښـی رضا غـواړي

ســتا رضـــا يـــې هـــر څـــه نـــه ارزانـــه وګڼلـــه

هـــم د ظلـــم لاس ښـــکلوي هـــم د خـــدای کتـــاب

هـــم کښـــېني واعـــظ تـــه هـــم کـــه ډمـــه ګډېدلـــه

هـــم څښـــکی د زم زم اوبـــه او هـــم د مظلـــوم وينـــې

خـــان کـــوي هـــم دا او هـــم هغـــه کلـــه نـــا کلـــه

هغــه ښــه ســړی هــم نشــته نــن چېــرې الفتــه

ښـه بـه يـې چـې ښـکاره کـول بـدي بـه يـې پټولـه

داسـې مسـلمان نـه پـه دنيـا کښـې څـه جـوړېږي نـه

دا مســـلماني پـــه آخـــرت کښـــې پـــه کـــارېږي نـــه

مرحوم الفت سوچه زهد او تقوی ته تصوف ويلی همدا وجه وه چې نوموړی خدای بخښلی په خپل اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو نومی کتاب کښې په تصوف يو مفصل ځانګړی بحث کړی دی او په تصوف کښې يې د زهد او تقوی کشف او معرفت او وحدت الوجود په درې واړو مدرسو پوره څېړنه کړېده هغه تاثرات چې اسلامي تصوف يې متاثر کړی او د زمانې په تېرېدو په همدغه علت ځينې متصوفينو نه څه ناڅه لغزشونه او په اسلامي تصوف کښې څه تغيرات راغلی پوره رڼا اچول شوی چې د بحث په اخير کښې يې داسې نتيجه ګيري کړېده: لکه څرنګه چې د زمانې په تېرېدو په تصوف کښې دومره تغير راغلی دی همدغه راز په صوفيانو کښې هم ډېر فرق او تغير ليدل کېږي لکه څرنګه چې هغه پخوانی تصوف ننی تصوف نشو ګڼلی همدغه شان پخوانی صوفی هم ننی صوفی نشو ګڼلی ځکه چې چېرته هغه شخه او زيره شړی چې پخوانی صوفی به په اورو اچوله چې څټ به يې زخمی کاؤ او چېرته دا د پت نه جوړ نرم او نفيس پټو چې د ننی صوفی او ځينو بډايانو په نصيب دی، دی کښې شك نشته چې هغه صوفي هم پرهېزګار ؤ او دا هم، فرق فقط همدومره دی چې هغه له خوندورو شيانو پرهېز کاؤ او دې له ښخونده شيانو څخه پرهېز کوي. هغه صوفي هم شپه په ويښه تېروله او دی يې هم، خو صرف دومره توپير دی چې هغه په زهد او رياضت او دی يې په عيش او عشرت. هغه صوفی هم خوارول کول او دی هم، خو فرق دومره دی چې هغه به خپل ځان خوار اؤ او دی خلك خواروي هغه صوفي هم بې نيازه ؤ او دی هم بې نيازه دی خو هغه د استغنا په وجه او دی د ډېرې غنا په وجه، هغه صوفي دنيا ته شاکړه او ده په شاکړه پخوانی صوفي لکه د يو جانس د سکندر سيوری په خپل سر نه قبلاؤ او دی يې ظل الله بولي او خپل سر پرې ماتوي.

دا ؤ د مرحوم الفت د تصوف په لړ کښې طرز نظر چې په يوه واقعيت بنا دی او د زمانې د اهل له هر قشر سره يې د اسلامي حدودو څخه د تجاوز صورت کښې بې خوفه تنويري هڅه او اصلاحي تنقيدي مبارزه کړې.

## د مرحوم الفت شخصي احوال:

خدای بخښلی الفت سره لدې چې يو پياوړی اديب، په ځان ډاډه ليکوال بې سارې شاعر او عامل عالم ؤ،ډېر متورع، بې کبره، بې غروره او لږ ويونکی سړی ؤ. د نوموړی خدای بخښلی سره به چې څوك په مجلس کښې ناست ؤ تر آخره به يې له ضرورته زياته خبره ځينې نه اورېده او نا پېژندګلو خو به بالکل دا فکر نشو کولای چې دا به هغه علمي او ادبي ذخيره (الفت) وي.

په خوار، يتيم او بې وزلو به يې ډېر زړه سوی درلود او همېشه د بې وزلو په ليدو ډېر زورېده.

مرحوم الفت به همېشه يو صغير هلك چې كورته به يې شرعاً د ننوتلو ممانعت نه ؤ د مزدور په توګه ساته. ولې په عام عرف كښې به چې څومره اجوره مروجه وه مرحوم الفت به په كافي پيمانه له هغې مروجې اجورې ده ته زياته اجوره وركوله.

مرحوم الفت به چې له كومې ټوټې ځانته جامې جوړولې له هماغې ټوټې به يې مزدور ته هم جامې كولې دا بالكل ثابته ده چې مرحوم الفت خپل مزدور ته نه ويلى چې د لاس وينځلو اوبه جوړې كړه. كه به مزدور كوښښ وكړ چې د لاس وينځلو اوبه ورته واچوي نو هم ممانعت به يې كاوه او خپل لاس به يې پخپله وينځه. مزدور به يې كه د هر څومره غريبې كورنۍ ؤ په هغه صورت كښې چې مېلمه به نه ؤ او مرحوم الفت به ډوډى په كور كښې خوړله نو مزدور به يې حتماً له ځان سره يو ځاى په كاسه كښېناوه.

مرحوم الفت احتكار ته په كركه كتل همدا علت ؤ چې كله به د مرحوم الفت د غلې درمند او راشه تياره شوه او تلل كېده به نو د ده په زمكه (درمند ځاى) كښې به دومره خلك ليدل كېدل چې كتونكى به له ورايه د كومې فوق العاده پېښې د وقوع په فكر شو او د دې وجه دا وه لكه څنګه چې دى په وينا كښې د احتكار مخالف ؤ په عمل كښې يې هم كوښښ كاوه چې د خپل توان په اندازه احتكار له مينځه يوسي او يا يې څه ناڅه مخه ونيسي چې تر ډېره حده يې له خپلې دغې كړنې مثبته نتيجه هم اخستى وه پدې معنى چې د هماغې منطقې ملاكانو به چې خپل درمندونه تر كوره كړل نو بې زمكې هغو خلكو باندې به يې په همدغه وخت كښې غله نه خرڅوله كومو به چې غلې ته ضرورت درلود بلكه خپلې غلې به يې قيمتى ته ساتلى او چې كله به يې نرخ پورته شو وروسته له هغې به يې په خرڅلاو پيل كاوه چې پدغه وخت كښې به د درمندونو له وخته نرخ يو په دوه يا زيات پورته شوى ؤ نو د مرحوم الفت په درمند كښې به چې څومره بيروبار ليده كېده هغه به هماغه بې زمكې خلك ؤ كومو چې غلې ته به يې ضرورت درلود او مرحوم الفت به د خپل ضرورت په اندازه غله كورته راوړه نوره به يې د احتكار د مخنيوى په غرض هماغلته په درمنده كښې د ورځې له موجوده نرخ څخه له دوو تر پنځو روپيو په ټيټ نرخ په بې زمينه خلكو لس لس منه پدې منظور توزيع كوله چې له يوه خوا ټولو راغلو خلكو ته ورسېږي او له بله پلوه كه چېرته له لسو منو زياته غله يوه سړى ته وركړي نه چې دغه سړى يې د خرڅلاو په نيت قيمتى ته وساتي. چې دغه كار رښتيا د مرحوم الفت د استوګنځى په محله كښې د همهغه فصل د غلې په نرخ ډېر په زړه پورې اثر كاوه او هغه اړميږي وګړى به چې د غلې د قيمته كېدو په وخت كښې د اخستو توان نه درلود پدغې وسيلې تر يوه حده دمه او په حوصله شول.

لكه څنګه چې مرحوم الفت د احتكار مخالف ؤ همدغه رازيې له تظاهر نه پوره ځان ژغورنه كوله او هغه وګړى به چې د تظاهر نخښې به پكښې وى كه څه هم د عامو خلكو په نظر كښې به ډېر غټ يا پرهېزكار ښكارېد مرحوم الفت ته به ډېر حقير او ذليل معلومېده چې د دغه مطلب څرګندونه او ثبوت د مرحوم الفت د رياكاره تر عنوان لاندې شعر څخه په پوره وضاحت كېږي چې ليكي:

## رياكاره

ستا ټول كارونه خدايږو دى براى نام غوندې

رامعلوميږي ستا فكرونه راته خام غوندې

هغـه کـار کـړي چـې سـادګان وربانـدې ژرغــولېږي

د قـام خـادم نــه يــې د نــورو يــې غـلام غونـدې

څـادر دې سـپين لکـه سـبا دی پـه خپـل سـرخور کـړی

مـخ دی چــې ګـورم راتـه ښـکاري تـور ماښـام غونـدې

نو همدغه سبب ؤ چې په مرحوم الفت کښې به سهواً هم چا رياکارانه او متظاهرانه عمل نه ليد، لدې کبله چې د خدای بخښلی الفت له تظاهر څخه کرکه، او د ظلم په مقابل کښې د مجادلې په شکل په ډېر جرئت مستمره مجاهده لاپسې ښه واضحه شې د ديني تبليغ عنوان لاندې شعر يوه برخه ليکل کېږي:

## ديني تبليغ

وايــو ظلــم بــد دی بيــا ظــالم ســره ملګــری يـــو

ډېــري نـــاروا وينـــو ړانـــده کاڼـــه او غلـــی يـــو

حقـــه شـــاهدي پټـــه ســـاتو لـــه حقـــه لـــری يـــو

ويـــره د خـــدایج نشـــته زورور نـــه ويرېـــدلی يـــو

څنګـه مسـلمان يـو قـرآن څـه وايـي مـوږ څـه کـوو
داسـې عملـو سـره لا بيـا وايــو چــې ښـه کـوو

لمـونځ مـو صـحيح نـدی خـو نفلونـه هـر ساعت کـوو

ديـن نـه خبـر نـه يـو لـه ريـا ډک عبـادت کـــوو

نــه کـــوو عمـــل پـــه قـــران تـــل يـــې تـــلاوت کـــوو

سل رنګـه ګناه خدايزو پـه رنـګ کښـې د طاعـت کـوو

زښت ډېر مهارت لرو په دغسې کارونو کښې
دین را څخه ورك شو په رسمونو رواجونو کښې

پاته دی اصول د دین خو تینګ په مستحبویو

کلك یو په سنتو نا خبر له فرایضو یو

کله مکلف د جای نماز په ګرځولو یو

اصل کار شو پاته د ظاهر په جوړولو یو

راشئ چې د دین واړه احکام په ځان قبول کړو
هسې نه چې پاتې وي واجب سنت معمول کړو

حق ویل په حق ټینګ دریدل اصلي طاعت ګڼه

لاره کښې د خیر کوښښ کول لوی عبات ګڼه

دا ته وظیفه د سرېتوب او خلافت ګڼه

ظلم ورکول له ملکه دین او عدالت ګڼه

سخت وي که اسانه چې دین وایي هغه کار کړه
ورانې کړې لارې کړه او جوړه سمه لار کړه

دا رنګه کارونه د رښتیا مسلماني غواړي

ګرانه وظیفه ده ډېره ټینګه دینداري غواړي

حق او حقیقت پالل تقوی ایمانداري غواړي

هر کار کښې د خدای ج لحاظ د حق طرفداري غواړي

څو رکعاته نفل کول شېخه دومره ګران نه دی
خدای خوشحالول جنت ګټل دومره اسان نه دی

که چېرته يو وارې دغه ديني تبليغ پوره په کره کتنه وکتل شي د مرحوم الفت نظر، ارزو او منظور سړی درك کولی شي پدې ډول چې د مرحوم الفت د نظر نهايي مرکز څه ؤ او څه يې غوښتل او د غوښتنې غايي هدف يې څه ؤ.

لکه څنګه چې مخکښې ليکل شوی چې مرحوم الفت له هيڅ قوت څخه ندی ويرېدلی او خپله مبارزه يې د اسلام په اساليبو برابره جاری ساتلی او په هيڅ وخت کښې غلی او چوپ ندی پاته شوی دا هم ليکل شوی چې علمي او سياسي شخصيت ؤ په علمي اړخ څه نا څه رڼا اچول شوی او په سياسي طرف يې په ډېره لنډه توګه داسې ليکل کېږي.

مرحوم الفت يو ثابت قدمه او متانت لرونکی شخصيت ؤ. په ځان متکی او په خدای(ج) يې راسخه عقيده وه ځکه خو اجتماعي، اداري او سياسي ټولو کړو وړو په ده کښې تغير رانشو راوستی او په خپل حال پاته شو چې ده به هر څه د اسلامي ارزښتونو په هنداره کښې ليدل او که هر څومره مستقيم يا غير مستقيم فشار به پرې راغی تحمل به يې کاوو او ناروا ته به نه تسليمېده.

په ۱۳۱۴ کال کښې د انيس اخبار په دفتر کښې د کاتب په حيث مقرر شو د پاك نفسی او پوهې په وجه يې ډېر ژر او په لږ وخت کښې ترفيع ګانې وکړې او د دولت په عالي رتبه و مامورينو کښې شمېر شو منځ تر مينځه يې د شورئ ګانو غړيتوب او معينيت هم په برخه شو. دا چې قدرت او عادي حالاتو په ده کښې تغير نشو راوستای او په هيڅ وخت کښې له خدای(ج) څخه پرته بل له هيچا نه ويرېده يوه ثبوتي نمونه يې د ده روسيې ته استول ؤ.

کله چې مرحوم الفت د پښتو ټولنې رئيس شو او په څنګ کښې يې د روسيې او افغانستان د دوستۍ د انجمن رياست هم ور په غاړه کړ نو حکومت په همدغې بنا روسيې ته و استاوه په روسيه کښې د روس حکومت دی او د ده لاس لاندې هيئت په شمول د روسيې په زياتو مشهورو ښارونو هم وګرځول او د بېرته راتګ په وخت کښې يې د کتنې هغه کتاب د امضا لپاره ورته راوړ چې د اسلامي نورو ملکونو وفدونو ته به يې هم د امضا لپاره را وړ او امضاوې به يې ځينې اخيستې. په همدغه ډول يې د معاينې کتاب مرحوم الفت ته هم مخکښې کښېښود او غوښتنه يې ځينې وکړه چې پدغه کتاب کښې خپل مشاهدات وليکي او لکه څنګه دی چې د شوروي په ټولو ښارونو کښې مسجدونه په داسې حال کښې وليدل چې خلك ټول (مسلمانان) مسجدونو ته راتلل او لمونځونه به يې په آزادانه شکل ادا کول او چا نه منع کول. دغه مشاهده هم وليکه او بيا يې امضا کړه. مرحوم الفت په ډېر جرئت له ليکنې او امضاء څخه منع وکړه او روسي مسئولو کسانو ته يې وويل چې د اسلام مقدس دين څوك په يوازې لمانځه کښې نشي خلاصه کولای بلکه د اسلام دين نور زيات احکام لري چې ما لا هغه دلته ندی ليدلی زه چې تر څو د اسلام ټول ارکان ونه وينم چې دلته په ازاده توګه عملي کېږي تر هغې زه دا نه ليکم چې په شوروي کښې اسلامي ارکان د مسلمانانو له خوا ازادانه عملي کېږي. په دغه ترتيب مرحوم الفت نه په هغه کتاب کښې څه وليکل او نه يې امضاء وکړه نو دا معلومېږي چې مرحوم الفت سياست له اسلامه جلا نه ګاڼه او اسلامي سياست يې د اسلام جز باله لکه چې وايي:

سياست اسلامي نه وي که اسلام وي سياسي
سياست د دين خدمت کښې سياست دی اسلامي

په کوم بل شی به که چا د سياست نوم کښېښود که به يې له اسلام سره مخالفت درلود په صحيح صورت به يې عملي کولو ته نه حاضرېده.

مرحوم الفت چې په دوولسمه دوره ۱۳۴۴ هـ.ش کښې د ولسي جرګې غړیتوب درلود د دې له ختمه وروسته یې تقاعد واخیست که څه هم له تقاعد سره حکومتي یا نورو مقاماتو موافقه نه لرله او په ډېرې الحاح به یې غوښتنه ځینې کوله چې له تقاعده صرف نظر شي او په حکومت کښې بیا د خدمت برخه واخلي ولې مرحوم په هیڅ صورت حاضر نشو چې دغه غوښتنې ومني او له تقاعده صرف نظر شي په هر حال تقاعد یې واخیست او په کور کښېناست. لدې وروسته له خپل فامیل سره د بیت الله شریف په زیارت مشرف شو او چې بېرته راغی نو له پخوا نه ډېر زیات فرق پکښې لیده کېده. انزوا یې زیاته شوه او محمدی(ص) مینه یې د تفکر ځوری شو. سره لدې چې صحي وضع یې د ډاډ ور نه وه مګر که به تکلیف ورته پېښېده په علمي مجامعو او ټولنو کښې به یې پوره برخه اخیسته خصوصاً د آنحضرت(ص) د مبارك میلاد په مناسبت به چې کومه ټولنه وه، د خپلو لیکنو مخه به یې ټوله موعظو او نعتیه کلامونو ته وګرځوله چې نشر یې هم په همدغه ډول شو. مثلاً اسلام او د اسلام نقش د فرد او جامعې په جوړولو کښې کتاب یې هم په همدغه وخت کښې لیکلی، غیر له دغسې ټولنو به په عامو وختونو کښې په قطعي انزوا پدې وجه خوښ ؤ چې په اسلامي دین څه اسلامي لیکنه وکړي او د خپلې عقیدې او عشق مرکز ته یې (محمد(ص)) د نذرانې په توګه وړاندې کړي لکه چې د رحمت للعلمین عنوان لاندې نعت یې د نمونې په توګه لیکل کیږي:

رب العـــالمین دې رحمـــة للعلمـــین ګڼـــي

نلـــرې ثـــاني چـــې دې خـــاتم النبیـــین ګڼـــي

ډېـــر خلـــك دي و ایـــستل تیارونـــه د رڼـــا لورتـــه

ستلا لاس کښـــې رڼـــا مسـلمانان نـــور الیقـــین ګڼـــي

تـــه پـــه مومنـــانو مهربانـــه لـــه هـــر چـــا نـــه وې

ځکـــه دې روف رحـــیم ارحـــم الـــراحمین ګڼـــي

ستا خلق عظیم خو په قرآن کښې خدای(ج) ستایلی دی

نـور خلـك لا څـه چـې مشرکان دې هـم امـین ګڼـي

ډېـــر دې ګرځـــولي لـــه دوزخـــه د جنـــت لـــور تـــه

ښـــایي درســـره چـــې دې شـــفیع المـــذنبین ګڼـــي

تـا مسلم پـه بعـث بعـد المـوت بانـدې مـؤمن کړلـو

نـه مـري مؤمنـان اب حیـات د اسـلام دیـن ګڼـي

غیـــب تـــه دې نظـــر متوجـــه د مؤمنـــانو كـــړ

ځكـه حیـواني نظـر سـطحي او ظـاهر بـین ګڼـي

دې دنیـا نـه ښـه بلـه دنیـا ځانتـه مـومن لـري

هلتـه مـومن هـر څـه لـري كلـه ځـان مسـكین ګڼـي

بـار د دنیا هـر څـومره كـه سپك وي څـه پـروا لـري

تلـه د عمـل يـې كـه درنـده وي ځـان سـنګین ګڼـي

ستا مینه مې بس ده چې له ځان سره يې خداى ته وړم
ســـتا رضـــا ؑ الفـــت رضـــا د رب العلمـــین ګڼـــي

نه یوازې دا چې مرحوم الفت له خداى(ج) او رسول الله سره د مینې واقعي معنی پېژندلې وه بلكه له دنیا سره يې لكه چې له پخوا نه هم اړیكې ټینګې نه وې پدې شپو ورځو كښې بېخي قطع شوې وې د دنیا حب ته به يې خفي شرك ويلې او د دنیا يې مال د نه درلودو حال به يې د ژوند خوند او د خداى(ج) او محمد(ص) د رضا او خوښی یوازینی مثبته وسیله ګڼله لكه چې د پاكې مینې عنوان لاندې داسې لیكي:

د مـــومن پـــه زړه كښـــې مینـــه وي د الله اكبـــر

د قـارون پـه زړه كښـې مینـه د دنیـا د سـیم و زر

پـه پـاك زړه كښـې پاكـه مینـه پـه ناپـاك زړه كښـې ناپاكـه

د غوجـل پـه شـانې زړه كښـې مینـه وي د ګـاو خـر

خفي شرك دى كـه څوك پـوه شي د دنیا مینه پـه زړه كښـې

یـوه مینـه سـاته زړه كښـې نـورې مینـې كـړه بهـر

د مـين نظـر هـر كلـه وي پـه خپلـې ليلـى بانـدې

د پتنـګ نظـر پـه شـمع نـه پـه شـمس نـه پـه قمـر

شـــي لـــه نـــورو بېګانـــه لېـــونى بيـــا فرزانـــه

چـې پـه عشـق او محبـت كښـې شـي لـه ځانـه نـاخبر

حال يې بل شي خيال يې بل شي نظر بل شي منظور بل شي

بـل سـړى شـي بـل عـالم كښـې د يـو چـا پـه يـو نظـر

د دنيـا تـورو تيـارو كښـې پټـې سـتركې ويـده پـروت وم

د راحـت بسـتر مـې پرېښـود چـې مـې وليـده سـحر

لـه عالمـه كنـاره شـه كـه وصـال د محبـوب غـواړې

ګڼـه ګوښـه كښـې څـوك مـومي وصـالونه د دلبـر

څـو دنيـا نكـړې طلاقـه د عقبـى ليلـى مـه غـواړه
بـن پـه بنـې ورځـې كلـه د شـپې چـا ليـدلى لمـر

د مرحوم الفت يوازې همدغه ليكنه هم كه سړى تحليل كړي نو د تحليل نتيجه به دا وي چې د دنيا حب نه لاس په سر شوى ؤ او صرف د يوې پاكې مينې ښتن ګرځېدلى ؤ. د تصوف په زړه پورې لوړ او عالي مقام يې په نصيب ؤ ځكه تر څو يو سړى د يوه شي په ماهيت نوى پوهېدلى په هغه څه حكم نشي كولاى دى چې ليكي:

د دنيـا تـورو تيـارو كښـې پټـې سـتركې ويـده پـروت وم
د راحـت بسـتر مـې تـرك كـړ چـې مـې وليـده سـحر

دا پخپله د دې ثبوت دى ځكه چې په تصوف كښې لا موجود الا الله اصلي غايه ده او دې مرحلې ته تر څو څوك نه وي رسېدلى د دنيا د ژوند په تيارې نشي پوهېدى.
ګرچه مرحوم الفت بالطبع هم شهرت طلبه او ځان ښودونكى شخص نه ؤ خصوصاً په دغه لړ كښې خويې ډېره هځه دا وه چې په ده به د تصوف په هكله بايد هېڅوك هم ونه پوهېږي همدا علت ؤ چې ظاهري لباس يې د مروجه او

معروفو صوفيانو سره ډېر فرق او مغاير نه بلکه مخالف او ضد يې ښکارېده خو سره لدې هم نه دی توانېدلی چې د خپل بدلون پېښه پټه کړي نو داسې يې ليکلي:

زه بېخـــي بــل شـــوم بــل مـــې جهـــان شـــو
بـــدل مـــې يـــون شـــو بـــدل مـــې تـــون

ظـــاهري نـــــدی جســـــماني نـــــدی
څـــوك ليـــدی نشـــي زمـــا بـــدلون

زه هغـــه نـــه يـــم اوس چـــې پخـــوا وم
دی زمـــا کلـــــه زمـــا پـــــرون

مـــا وليـــد بـــل چـــا ليـــدلی نـــه دی
لـــه خپلـــه ځانـــه د ځـــان بېلتـــون

الفـــت مونـــدلی فـــيض لـــه الفتـــه
ښـــه ده چـــې نـــدی د چـــا مرهـــون

په هر حال خدای بخښلی الفت د افغانستان د علمي، اجتماعي، سياسي او ادبي ممتازې طبقې په کاروان کښې يو ځانګړی حيثيت لري چې که څوك يو ځل د نوموړي آثار په تحقيقي او تدقيقي سترګه وګوري او د بې تعصبه قضاوت په تله يې وتلي د مرحوم الفت د زمانې او يا څه مخکښې په افغانستان کښې يا له افغانستان نه د باندې اسلام پوهانو له ليکنو او اثارو سره يې مقايسه کړي اعتراف به وکړي چې مرحوم الفت په پورتنيو ټولو لحاظونو د ټولو مخکښ دی.
والسلام

د قلم د مجلې څخه:

قاضي محمد صديق صادق

# مرحوم ګل پاچا الفت
# او د هغه نظريات

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذين اصطفی

اما بعد:

د جهادي څېړنو د مرکز له کتونکی ډلې او محترم مشر څخه د زړه له کومې نه اظهار د امتنان کوم چې له ما غوندې کم علم او کم تجربه او دلږو معلوماتو خاوند بې نوم او بې نشانه شخص څخه چې پل يې په ايرو کښې هم نه معلومېږي، غوښتنه شوی چې د مرحوم الفت د ژوند او جهاد، شعر او ادب او د خلقو د ذهنونو د روښانه کولو په متعلق څه نا څه رڼا واچوم. شايد دا به د دوی حسن نظر وي زما په هکله او که نه زما نظر او فکر او د هغه محترم علمی شخصيت د هغه د تفکر د سطح لوړ والی داسې مثال لري لکه چې په هغه پخوانی د تورو تيلو ډيوه باندې څوك د لمر رڼا لټوي، مګر بيا هم زه خوښ يم چې د هغې بوډی په څېر چې د تارو مشوره يې په لاس او د حضرت يوسف(ع) د خريدارانو په ډله کښې ولاړه وه او ځان يې د يوه خريدار په شکل معرفي کاوه.

مرحوم الفت صاحب ما ډېر کم ليدلی وو. شايد په ټول عمر کښې دوه يا درې وار، هغه هم د اتو يا لسو دقيقو په شاو خوا کښې، خو يوه ورځ داسې پېښه شوه چې زه پښتو ټولنې ته د يو څه کار لپاره لاړم دا هغه ورځ وه چې محترم الفت د رئيس مستقل قبايل په حيث مقرر شوی وو، خلك او مراجعين د تبريکی لپاره ورته ډلې ډلې تله او راتله، راتلونکې ډلې اکثره رئيسان، وزيران، جنرالان و غټ خلك وه پدغه وخت کښې زه په يوه مکتب کښې معلم وم. چې زوړ ليلامي پطلون، خيرنه پګړی او نا پالشه بوټانو هيڅکله هم دا اجازه نه راکوله چې د تبريکی مجلس کښې ګډون وکړم. ځکه هلته ډېر لوکس، شيك، پالش شوی او په صابونونو مينځل شوي، معطر موټر سواران، چې د هغو کراوفو زما د مخې سد او مانع وو.

زما پېژندنه هم د مرحوم سره لږ وه، کله به مې زړه را جګ کړ چې الفت يو ظاهر بين شخص نه دی، شال شړی او ململ د ده په نظر کښې تفاوت نه لري نو زما په ورتګ که خوشحاله نه شي نو خفه به هم نه شي او کله به بيا چرت راغی چې ته څوك او دا مقام! خو د دې ټولو مختلفو نظرياتو سره سره کله چې ازدحام کم شو. د دروازې پرده مې زړه نا زړه پورته کړه د الفت سترګې په ما ولګېدې. زما د کم جرأتی او ويريدونکی قيافې سره سره د چوکۍ نه را اوچت شو او د الفت په غېږ کښې يې ونيولم په خپل څنګ کښې يې کېنولم تر کومه وخته چې زه هلته وم ډېر غټان تله او راتله، خو ده مرحوم په هره خبره کښې زما سره مخاطبه کوله او نورو ته به يې صرف جواب قدری ويل. ما وويل چې مونږ تا د مقام او څوکی په لوړوالی نه پېژنو ته يو مفکر د ژوندانه د کړاوونو د سمولو او د حقيقت د درك او موندلو ته د رسېدلو يو مبارز يې ده وويل حقيقت زړو جامو کښې رټل کيږي. خو انسان جد و جهد کښې بايد بې عزمه نه شي او ورنه رخصت شوم.

## د مرحوم الفت صاحب تأليفات او ليکنې:

د الفت صاحب تألیفات که په کلی صورت د غور او تعمق لاندې ونیول شي نو د ده طرز تفکر انسان ته دا ټکی ور په ګوته کوي چې د ظلم او بې عدالتۍ سره مجادله وشي، فرد او جامعه د اسلامي مفاهیمو په معیار باید متکي وي، تفوق طلبي باید د علم او اجتماعي عدالت په تله وتلل شي نه د مادي او شخصیت پرستی په بناء دا هغه اسلامي او سپېڅلی نظر دی چې د اسلام مقدس دین ورته په ډېره درنه سترګه کتلی او د بشریت ستر لارښود حضرت محمد(ص) اجتماعي عدالت داسې بیان کړی:

والله لایُؤمِنُ اَحَدُکُم حتیٰ یُحِبَ لاخیه مایُحِبُ لِنَفسه.

د ده محترم اکثره نظم او نثر د همدغه اصل او هدایت په رڼا کښې لیکل شوی. د الفت صاحب د فکر سطحه او د نظر لوړوالی دومره اوچت دی یوازې دا نه چې زه یې نشم تحلیل کولای بلکه ډېر د شعر او ادب د فن خاوندان هم د هغه لیکنو ته ګوته په غاښ دی چې دی مرحوم وایي:

زه یــــې پېـــژنم شـــاعر دی بـــل څـــوك نـــه دی

چـــې دا لـــوی جهـــان وروکـــی ورتـــه ښـــکاري

طوفـــاني ســـیلاب ګڼـــي د مظلـــوم اوښـــکی

د دنیـــا بحـــر ډنـــډوکـــی ورتـــه ښـــکاري

د دنیـــــا فـــــاني عیشـــــونه نعمتونـــــه

د سـپی مـخ کښـې پـروت هـډوکی ورتـه ښـکاري

چـــې ســـل وژنـــي او خپـــل نفـــس وژلـــی نشـــي

بېغیـــــرت او ویریـــــدونکی ورتـــــه ښـــــکاري

نو د دومره لوی او عالي نظر خاوند چې د ده لوړ خیالونه او ژور فکرونه په لاندې باندې ټولو باندې احاطه کړی وي او په هره جمله او هر فرد، هره کلمه یا په هر شعر باندې یې کتابونه ولیکل شي د دومره لوی متفکر او نظر خاوند د شخصیت یادونه په کومه ماته ګوډه مقاله او یا کوم مجله چې د هغه د ژوند او طرز تفکر ترجماني وکړي ډېر جرأت دی. ځکه د ده اشعار که په مقایسوي ډول د علامه اقبال لاهوري له دري اشعارو سره وتلل شي نو بالکل ورسره معادل د کلماتو په جوړښت او خوږوالی د وخت او زمان د تطابق په متعلق هېڅ ترې نه کم نه دی.

دلته د مرحوم علامه اقبال یو فرد او د مرحوم الفت صاحب یو فرد د مثال په توګه وړاندې کوم:

علامه اقبال وايي:

سال ها در کعبه و بت خانه می نالد حیات
تا ز بزم عشق يك دانای راز آيد بـيرون

خو دغه مقصد مرحوم الفت د نابغة الشرق سيد جمال الدين افغاني په متعلق داسې اداء کړی:

د قدرت له کارخـانې نـه کله کله
په جهان پيدا يو بل رنګه بشر شي

زما په عقيده د مرحوم الفت پېژندنه بايد د الفت په خبرو باندې وشي چې آيا الفت څه خبرې کړي، څه يې ويلی، څنګه يې ويلی، د چا لپاره يې ويلی، د کوم نظر خاوند وو، ده څه غوښتل چې بايد اجتماع څنګه وي او افراد بايد څنګه اصلاح شي.

لنډه دا چې د الفت خبرې د الفت په خبرو کښې دي مونږه که د ده په شان کښې له ځانه څه وايو او يا ليکو دا د هغه د فکر او نظر ترجماني نه شي کولای بلکه د ده د عالي شخصيت مظهر او بيانوونکی د ده محترم هغه ليکنی دي چې ده په خپل حيات کښې خپل طرز تفکر لکه د ځلانده تورې په شکل د هر ظلم او وحشت هر ناوړه عمل په مقابل کښې استعمال کړي او د تورې د ګوزارونو په عوض يې د قلم د تورې په استعمال د هغه په مقابل کښې جهاد کړی دی. دا ځکه چې د تورې جهاد خو د يو محدود وخت پورې وي او د قلم جهاد د قيامت تر ورځې دوام کوي.

مرحوم الفت د ژوند په دوران کښې ډېر کتابونه ليکلي چې ماته يې پوره شمېر معلوم ندی خو مشهورې ليکنې يې دا دي:

غوره اشعار، غوره نثرونه، د زړه وينا، لوړ خيالونه او زوړ فکرونه، د اسلام نقش، د فرد او جامعې په جوړلو کښې او د منطق يوه رساله، وروستی تاليف يې د الفت خبرې دی. د ده د تاليفاتو هر عنوان يا هر يو شعر يا يو فرد دا حق لري چې يو مستقل کتاب پرې وليکل شي تر څو د هغه معانی او مفاهيم چې د ده د جملو د ترکيب په جوړښت کښې نغښتي وي وڅېړل شي پدغه وخت کښې چې زه دا خبره کوم د هغه مرحوم يو کتاب زما په مخکښې پروت دی چې دا فرد يې په وقايه ليکل شوی دی:

آزادي کـه خيراتـي وي يـا د چـا مهربـاني وي
افتخار بـه پـرې ونـه کـا کـه همت يـې افغاني وي
قرباني چې پکښې نـه وي هغه کله لـوی اختر وي
آزادی سـره ترلـی ډېـره لويـه قربـاني وي

نو د ادب پوهان پدې پوهېږي چې د دغه شعر په لنډو جملو کښې څومره ادبي مفاهيم او اسلامي ايثار او د ژبې سادګي او د معنويت په لحاظ څومره لوی مفهوم لري.

يو عربي شاعر وايي:

لَهـــــا مِنهَـــــا عَلَيهـــــا شـــــــواهد

(ده لره له همده ځنې په ده باندې شواهد موجود دی.)

زه دلته د فرد او اجتماع د جوړولو ځنې هغه نظريات چې د اسلام د مقدس دين لارښود حضرت محمد(صلی الله عليه و سلم) د اجتماعي ژوند د سمون لپاره بيان کړی را نقلوم:

اِنّ اَحبَ اَلنَاسِ اِلی الله يَومَ القِيَامَةِ و اَقربَ هم مِنهُ مجلساً امامٌ عَادِلٌ و ان البغض الناس الی الله يوم القيامة و اشد هم عذاباً امام جايرٌ.

(امام بخاري – مسلم – ترمذی)

ده ده په نظر د اسلام د عالي قانون په چوکاټ کښې چې کومه آزادي د انسان لپاره ورکړل شوی هغه بايد تضمين او محفوظه پاتې شي يوه اسلامي ټولنه د اسلام په اساساتو بايد متکي وي په اسلام کښې مطلق العنان حکومت او مستبد نظام شرعي جواز نلري. د اسلام اولوالامر په هر نامه چې وي مکلف دی چې اجتماع د اسلام په اصولو عياره او برابره کړي له اسلامي اساساتو سره مطابق يو نظام جوړ کړي. د اسلام په مقدس قانون کښې دا حق هر چا ته ورکړه شوی چې واکمن قدرت ته د ښو او بدو توصيه او لارښودنه وکړي د همدغه اصل په بنا کله چې لومړی خليفه سيد نا حضرت صديق اکبر(رض) خليفه وټاکل شو په لومړی خطبه کښې يې وفرمايل:

زه ستاسو نه بهتر نه يم تاسو غونډې يو شخص يم که په حقه لاره روان وم زما مرسته وکړئ او که په باطله لاره روان وم په سمه لار مې برابر کړئ. زما اطاعت تر هغې پورې کوئ چې د خدای(ج) په لاره سم وم او که کوږ شوم په تاسو سمعه او اطاعت لازم ندی.

په همدې ډول کله چې حضرت عمر فاروق(رض) خليفه وټاکل شو په خطبه کښې داسې وفرمايل:

که زه مو بې لارې وليدم په سمه لار مې برابر کړئ.

په دغه وخت کښې يو مسلمان پاڅېده او توره يې را وښکه خليفه ته يې ووې:

کله چې ته منحرف شوې په دې توره به دې سموو.

حضرت عمر(رض) ډېر خوښ او د خدای(ج) شکر يې په ځای کړ چې په مسلمانانو کښې داسې کسان شته چې خليفه په توره سمې لارې ته برابروي او نه پرېږدي چې له حق نه منحرف شي.

هو! په اسلام کښې تنقيد او د اعتراض لاره خلاصه ده هر انسان حق لري چې تنقيد وکړي او په مشر کښې هم بايد د تنقيد د اورېدو حوصله موجوده وي. د اسلام هر عمل او هر حرکت بايد د مسلمانانو لپاره د يوې صالحې اجتماع د جوړولو په خاطر يو قانون وي او اسلامي جامعه و همهغو مقرراتو په اساس مخ په وړاندې لاره شي.

د غنيمت د مالونو د وېش په وخت کښې يوه ورځ يو قسم خاص رخت چې (بردېماني) ورته ويل کېده، وېشل کېده چې يو يو ټادر هر چاته ورسېده. خليفه او د ده زوی عبدالله ابن عمر(رض) ته يو يو ټادر ورسېده ځرنګه چې د خليفه

مبارك قد ځک وه یو ځادر يې د لباس لپاره کافي نه وه. عبدالله د ده زوی خپل ځادر ورکړ چې د هغه لباس پوره شي.
خو کوم وخت چې خليفه ممبر ته وخوت او په خطابه کښې يې وفرمايل:

يا ايهاالناس اَسۡمِعُواۡ و اَطِيۡعُواۡ

(واورئ او اطاعت وکړئ)

په دغه وخت کښې حضرت سلمان(رض) پاځېده او په مقابل کښې يې داسې وويل چې:

لاَ سَمۡعَ لَكَ عَلَيۡنَا و لا طاعَةَ

(نه ستا اورو او نه ستا اطاعت کوو)

خليفه وفرمايل چې ولې؟ د څه لپاره؟

سلمان(رض) وفرمايل:

دا لباس دې له کومه کړ هغه یو ځادر خو ستا نه بس کېده معلومه ده چې بې عدالتي دې کړي.

خليفه(رض) خپل زوی ته وفرمايل چې ځواب يې ورکړه.

عبدالله ابن عمر(رض) وويل چې ما خپله برخه هغه ته ورکړه چې لباس يې پوره شي.

حضرت سلمان(رض) وويل:

اوس پر مونږه سمعه او اطاعت لازم دی.

د مرحوم الفت په نظر هغه اصل چې اسلامي قانون د ظلم په مقابل کښې د مبارزې لپاره مقرر کړي بايد پوره مراعات شي تر څو ظلم په هر رنګ او بڼه په هر شان او شکل او په هره سويه چې وي بالکل محوه او نابود شي او يا لااقل د هغه د امحاٴ لپاره جد و جهد جاري وساتل شي.

هر کله چې څلورم خليفه حضرت علی(رض) د خلافت لپاره مجبوره شوه په اسلامي تربيه او اخلاقو کښې ډېر تفاوت موجود شوی وه. اسلامي اخلاق مخ په انحطاط او ځوړ روان وه ځکه چې مسلمانان د عظيمو فتوحاتو له کبله د ډېر ثروت خاوندان شوي و. ورسره ورسره عياشي، تن پروري په زړونو کښې د جاه او جلال مينه د خواهشاتو پوره کول په اخلاقو کښې پوره بدلون راوستی وه. معنوي او روحاني تعلقات يې کم شوي وه. د حضرت عمر فاروق د خلافت نه وروسته که څه هم د فتوحاتو لړی همهغسې په کامیابه توګه روانه وه خو له دغو پرمختګونو سره معنوي او اخلاقي انحطاط، اقتدار، د شخصي ګټو مينه، د حرص او هوس اثرات په خلکو پرېوتې وه، سياسي رشوتونه او د ضمير خرڅول په ډله کښې د ډلو جوړول او ځو ملګری پيدا کول خپل مرام په هغو قبلول رواج شوی وه. مګر حضرت علي(رض) خو د دغه مکتب سړی نه وه. ده مسلك له سياست نه نه قربان کاوه د اخلاقي کمزورتيا په وسيله يې سياسي کاميابی نه ګټله. هېچا ته يې بې شرعي استحقاقه څه نه ورکول نه يې څوك تطميع کاوه کله چې د ده ورور عقيل(رض) په ډېر اميد ده ته راغی چې له بيت المال نه څه ورکړي. حضرت علي(رض) خپل زوی امام حسن ته وويل کله چې زما برخه له بيت المال نه را ووته بازار ته ولاړ شه یو جوړ جامې او يوه جوړه پڼې ورته واخله. همدا سبب دی چې حضرت عقيل(رض) له ده نه خوابدی شو. خو کله چې حضرت معاويه(رضی الله عنه) ته ورغی هغه سل زره درهمه ورکړه. چې په دغه واسطه يې ورور له ورو نه بېل کړ خو څلورم خليفه مسکلی تقویٰ چې د بيت المال پيسې د سياسي مصلحت لپاره ولګوي اجازه نه ورکوله.

حضرت علي(رض) به ويل چې زه پوهېږم چې څه شی تا سو اصلاح کوي مګر نه غواړم د ځان په فاسدولو تاسو اصلاح کړم. حضرت علي(رض) غوښتل چې د رسول الله صلی الله عليه و سلم او د دريو واړو مخکينيو خلفاوو په لاره ولاړ شي خو مسلمانان له اخلاقي انحطاط سره دومره مخامخ وه چې د مخکينيو په زمانه کښې نه وه همدغه اخلاقي انحطاط او معنوي سقوط د دې باعث شو چې په مسلمانانو کښې تفرقې او رخنې پيدا شوې اسلامي زعامت خپل عظمت بايلود، يزيديان د قدرت خاوندان او اداري دستګاه بالکل فاسده شوه.

دلته د الفت نظر دا دی چې د اسلامي ټولنې په جوړولو کښې اداري فساد ستر عامل ګڼل کېږي باید په افرادو کښې اخلاقي تهذیب او سیاسي تقویٰ د دین په اصولو پابند اوسېدل په نظر کښې ونیولای شي تفوق پسندي او ځان په نورو لوړ ګڼل، خپل نظر په خلکو تحمیلول او د نورو نظریات له خپلو شخصي ګټو نه قربانول د اسلامي غرا دین په نزد محکوم او مردود دی.

ما مخکښې ویلی چې مونږه د الفت خبرې باید د الفت په خبرو کښې ولټوو د الفت فکر، ذکر، شعور ناسته، پاسته او کړه، وړه ټول دې ته متوجه وه چې باید خپل محیط او ماحول ناوړه او غیر انساني فکر څخه څرنګه جلا او اصلاح او څرنګه وژغورل شي.

په هغه وخت کښې چې د ده د غوره اشعارو کتاب چاپ شو، هر چا د ده اشعار لوستل خو د ده دا یو فرد د هر با سواده او بې سواده په خوله تکرار کېده:

نـه يمـه خـاين پـه خيانـت د نـورو پـوه يمـه
پوهه کـه ګناه وي خلك ټـول اوس پوهېدلی دي
نه ومه خبر پرده مې لږ غوندې چې پورته کړه
نـه دی د ويلـو هغـه څـه چـې مـا ليـدلی دي
لـوړ مقـام تـه رسـي چـې بوټونـه پـاکوي د بـل
ډېـر پـه دغـه شـغل رياسـت تـه رسـېدلی دي

ده په خپلو اشعارو کښې هر ظلم او ظالم غندلی او د هر بې وزلی په حال یې ژړا کړی ده. زه د ده دوه درې شعره چې عنوان یې دی د حق رڼا تر څېرنې لاندې نیسم. د مرحوم الفت دغه شعر چې (د حق رڼا ده) د ده د فکر ژوروالی انسان ته بالکل په ګوته کوي او دا مقصد ثابتوي چې الله(ج) فرمايلی: (الله نور السمٰوة و الارض) هغه ذات اقدس چې له وهم او مخیله قوا، عقل او تصور نه بېل او سوا دی د علم نظر هلته امکان نه لري هلته طول او عرض څرنګوالی او تکیف نشته هغه څه چې مونږه ګورو او یا یې د منطق او استدلال په شکل ثابتوو ذات اقدس له هغه څخه ډېر لوړ او عالي دی د حق تجلیات خپل انوار هغه ځای کښې ښکاره کوي چې یو ایمان یې ویني او بس.

عقل پوه نه دی چې یې څنګه په څه شان ویني
د حـق رڼـا کـړي تجلـی چـې یـې ایمـان وینـي

الفت صاحب ویلی چې:

زمـــونږ مننـــه، زمـــونږ رد، زمـــونږ انکـــار غلـــط
څـــه اعتبـــار لـــري زمـــونږه اعتبـــار غلـــط

دلته به بده نه وي چې د مولوي جلال الدين بلخي(رح) او د مرحوم الفت د نظر نژدې والی بلکه يو والی ته يو څه اشاره وکړو. مولانا وايي:

كُــلُ شَــئِی قَالَــهُ غَيْــرُ المُفِيْــق
اِنْ تَكَلَــف او تَصَــلَف لاَ يليــق

دی هم وايي چې هر هغه څه چې وايي غير هوښيار انسان ولو که ډېر تکلف او يا لاپې شاپې وکړي هغه د ذات اقدس سره مناسب نه دی دلته مرحوم بلخي په خپل عجز او د فهم ګونګوالی ته داسې اشاره کوي:

لا تُكَلِفنــی فَــانی فِــی الفنــاءُ
كَلّــت اِفهــا مــی فَــلاَ اُحِصــی ثنــاءُ

دی وايي چې ما مه په تکليف کوئ په عشق کښې فاني يم زما فهم او ادراك ګونګ او عاجز دی او د خپل عجز د اثبات لپاره هغه قدسي حيث چې آنحضرت(ص) فرمايلی او خپل عجز يې ښکاره کړی دی، راوړی:
لاَ اُحْصِي ثناً عَلَيْكَ كمَا اَنتَ اَثْنَيْتَ علی نفسك.
او دغه مبارك حديث هم د قرآن کريم په اساس چې الله(ج) فرمايی منځ ته راغلی دی:
ان تعدوا نعمت الله لا تحصوها
مرحوم الفت په دغه متعلق داسې ويلی دي:

ستا معرفــت تــه د بشــر عقــل رســېږي کلــه
د انســاني فکــر لبــاس پــه تــا جــوړېږي کلــه

خو د اثبات په وخت کښې بيا داسې وايي چې:

ړانده پوهېږي چې لمر شته دی مګر لمر نه ويني
سـحر لـه خوبـه را پـاڅېږي خـو سـحر نـه وينـي

مولانا بلخي دا اثبات په دغو جملو کښې کړی دی:

آفتــاب آمــد دليــل آفتــاب
گــر دليلــت بايــد از وی رومتــاب

هو! د علت او معلول استدلال د فلاسفه ؤ استدلال ګڼل کېږي چې د هغو په صدر کښې د تفسیر کبیر مؤلف امام فخر رازی وايي:

چې یا ترجیح بلامرجح او یا توقف د شی په خپل نفس پورې راځي. دا دواړه باطل دي نو معلومه شوه چې ذات اقدس د علت او د معلول د سلسلې نه بهر، هلته چې زمان او مکان، عقل او شعور احاطه نه شي کولای او نه د فکر نظر هلته رسي چې دلته د الفت او مولانا نظریات بالکل متشابه او عین شی دی. خو مولانا په فخر رازي تنقید کوي او وايي:

فخـــــــر رازی آرد را لیتـــــــــی کنـــــــد
پـــیش مرغـــان ریـــزد و تـــی تـــی کنـــد

او د فخر رازي استدلال داسې محکوموي چې:

پـــــای اســـــتدلالیان چـــــوبین بـــــود
پـــاي چـــوبین ســـخت بـــی تمکـــین بـــود

د مولانا په نظر په دلیل اتکاء د تضعف اثر ګڼل کېږي او وايي چې:

یو اجلي د بدیهیاتو حاجت دلیل ته نه لري چې مونږه له علت نه معلول ته او یا معلول نه علت ته حرکت وکړو. مولانا د اثبات په مقام کښې داسې وايي:

جنــبش مــا هــر دمــی خــود اشــهد اســت
کــو گـــواهی ذولاجــلال ســر مــد اســت

گـــــردش ســـــنگ اســـــیا در اضـــــطراب
اشـــــهد آمـــــدا بـــــر وجـــــود جـــــوی آب

نو د مولانا بلخي او د مرحوم الفت اظهار عجز بالکل سره مشابه او د دوی فکري یووالی سره نژدې او یو شان دی نو ځکه الفت صاحب خپل عجز داسې اظهاروي:

خدایـــه تـــا نشـــي پېژنـــدی زمـــونږ قلیـــل علـــم
دا پـــه علـــت معلـــول ولاړ زمـــونږ علیـــل علـــم

اهـــل عرفـــان پـــه تضـــرع ماعرفنـــاك وایـــي
مونږ هاغه حمد کله ویلی شو چې تا ته ښایي

همدا راز رئیس الصدیقین سید نا حضرت ابی بکر الصدیق(رض) فرمایلی چې:

العجـــــــــــــــــزعن درك الا دراك ادراكٌ
والبحـــــث عـــن الســـرالذات اشـــراكٌ

یعنی عاجزی د معرفت په میدان خپله پېژندل دی. نو د همدغه علت په اساس الفت صاحب د انسان پوهه او علم، کوڼ والی او ګونګوالی ګڼلی دی. ما په مخکښې کرښو کښې وویل چې د مرحوم هر عنوان یو کتاب او هر کتاب یې بابونه او هر باب کښې فصلونه او په هر فصل کښې شعرونه او هر یو شعر یې بیتونه چې د هر بیت په هره جمله او ترکیب کښې معانی او مقاصد پراته دی او هر مقصد یې د مرغلرو خزانې بلل کېږي. چې د ادب د شعر او شاعری لامبوزن او غواصان یې پیدا کولای شي دلته به بده نه وي چې یوې خبرې ته اشاره وکړم او هغه دا چې نه پوهېږم کوم کال او کوم وخت وه خو یو کتاب چې نوم یې وه یو شعر. دا شعر د پښتو د ادب پلار خوشحال خان خټك شعر وه. خو د پښتو د ادب ستر صوفي او فیلسوف شاعر امیر حمزه شنواری چې د خیبر د ادب څوکه یې له آسمان سره سیالي کوي له خوا لیکل شوی وه او د خوشحال دا یو شعر یې شرح کړې وه. هغه شعر دا دی:

پــه هـــر څــه کښــې نــداره د هغــه مــخ کــړم
چــې لــه ډېــرې پیــدا یــی نــه نــا پدیــد شــو

دا کتاب په ډېر حکیمانه او عالمانه منطق توګه څېړل شوی وه چې د خوشحال بابا هغه فکري لوړ نظریات چې دغه یوه شعر کښې ځای شوی وه را ښکاره کړې اوس نو مونږه د محترم الفت هغه جد و جهد، مبارزه په یوه مجله یا یو کتاب کښې څنګه ځایولای شو؟ هغه د حق او حقیقت طرفدار د سلیم فطرت ترجمان او د یوه درست شعور او د یوې سپیڅلې عاطفې څښتن، یو واقعي خطیب او د یوې اسلامي نظر یې مبلغ وه. داسې مبلغ چې تبلیغ یې پند، نصیحت، حکمت، تقویٰ، دیانت، وفا، صدق او عشق ؤ. دی د یوه واقعیت داعي او د ذهنیتونو روښانوونکی ؤ. هر څه یې چې بدلیدلی هغه یې بد هم ګڼلی او د هغې په مقابل کښې یې د (مَنْ رَایٰ مِنکُمْ مُنکَراً فا لیغیره بیده و الا فبقلبه و الا فبلسانه) د هغه د تغیر او امحاء د کوښښ جهاد پیل کړې. د ده نظم او نثر هغه موعظه حسنه وه چې حق جل جلاله فرمایي:

اُدعُ اِلی سبیل ربك بالحکمة و الموعظة الحسنة.
د ده عشق د پروردګار د مخلوق د اصلاح سره ؤ.

حافظ صاحب وایي:

هرگــز نمیــرد آنکــه دلــش زنــده شــد بــه عشــق
ثبـــت اســـت بـــر جریـــدهٔ عـــالم دوام مـــا

دی د حق ویلو یو ستر مجاهد ؤ او د ده جهاد تل جاری و. رسول کریم(ص) فرمایلی دی چې مؤمن جهاد په توره کوي او په لسان. د لسان او د قلم جهاد همېشنی جهاد وي همدا علت دی چې رسول کریم(ص) فرمایلی دی:

اَشَدُ الْجَهاد کِلمةُ الحق عند السلطان الجایر.
سخت جهاد دِ ظالم په مخ کښې د حق بیانول دی.

نو د دغه پورتنی حدیث شریف په اساس مرحوم الفت د وخت د قدرتونو په مقابل کښې تل دا حق جهاد کړی او د خلکو د ذهنونو د روښانه کولو په متعلق یې خپلې هڅې ندي سپمولې. دی په خپله وروستی وصیت نامه کښې داسې وایي:

لاس کښې کـه څـه نـه وه چـې نهـروري مـاړه کـړه
زړه کښـې خـو څـه وه چـې یـې پـه دوی کړمـه زهیـر
ښــه بــه وي کــه لــږ مــې دا تیـاره قبـر رڼـا کانــدي
کـــه مـــې رڼـــا کـــړی وي د چـــا ذهـــن او ضـــمیر

په هغه وخت کښې چې په افغانستان لا چا د جهاد نوم هم نه شو اخستی الفت صاحب وایي:

چـا چـې یـو قـدرت منلـی پـه جهـان کښـې د الله(ج)
اصلي کـار یـې دی جهـان کښـې جهـاد فـی سـبیل الله
اسـلام نـر دی او نـر تـوب دی شـهامت زړورتـوب دی
نـــه ژړا نـــه انګـــولا ده نـــه د ظلـــم مرئیتـــوب دی

يزيدان خـومره ډېر شـوي يـو حسين نشته جهان کښـې

د جهاد درس چا وا نه خست مهجور پاتې شو قرآن کښې

ومنـــل مســـــلمانانو د اســـــلام آســـــان امرونـــــه

سـر سـايه ورکـوي خدايـه! نـه د حـق لار کښـې سـرونه

دا وه د محترم الفت صاحب د جهادي تبليغ يوه لنډه نمونه چې د قلم په توره يې د وخت له جباريت سره مبارزه کړې. خداى(ج) دې وکړي چې يو څه نا څه د ده مرحوم د نظرياتو ترجماني مو کړې وي.

و السلام مع الاحترام

د قلم مجلې څخه:

داکتر عبدالرحمن الفت

# د محترم الفت صاحب په یاد

پــه نصــیب دی شــه فــردوس محتــرم پــلاره

پــه ســجدو کښــې مــې دعــا لیــل و نهــاره

لــوی شــاعر او لــوی لیکــوال ټــول درتــه وایــي

چــې ســپېڅلی دې احســاس و ګهربــاره

نــه دې خلــق را پــه تنــګ کــړی پــه وعظونــو

چــې عمــل کښــې دی عبرتونــه بــې شــماره

نــه پادشــاه او نــه پیســو تــه یــې ټیــټ شــوی

خــو غریــب ســره تواضــع دی کړنــد لاره

نــه پــوهېږم چــې د څــو کــالو ماشــوم وم

چــې ننګرهــار کښــې قحطــي راغلــه بــې مثالــه

مؤظــف شــوی د غریبــانو و کمــک تــه

امانــت کــاره پــه بــې وزلــو مهربانــه

چــې خونــدي شــول مســتحق پــه کومکونــو

اضــافه دې خزانــې تــه وروســپاره

نه دي خپلى غريبى باندي نظر وه

نه اغواکرو مشورو ته غوږ په لاره

که و نورو ته نزول تا ته صعود وه

کابينې نه چې شورىٰ ته دي کړه لاره

همېشه به حکومتو سره دي جنګ وه

چې خبر يې کړې د مظلوم امت له حاله

مرګ خو نه وه دا د لوى خداى(ج) رحمت وه

چې يې وژغورلې سانحونه بې هنجاره

ډېر دي اوښکې د اخلاص وې بهېدلې

چې دي وليد مستقبل د خيال په هنداره

د کربلا الهام(۱) د جهاد شکلى تعبير شو

وې مخلص چې خداى(ج) در وښودله لاره

راشه وژاړه په حال د دي ملت اوس

پس له يو نيم مليون شهيد د خداى په لاره

تا به ويلى چې دشمن به يې متحد کړي

غرونډي يې د تخرب ولوېده په غاره

د نجيب قوت له اختلافه د احزابو

---

[1] د الفت صاحب په اشعارو کې لويه قصيده.

اعتماد يې که د جولايه اوهن ځاله[2]

نه شامار ندی هغه زړه بوږی ده

چې د لسو کالو او بد نه کړي ويجاړه[3]

نه (الفت) چې د احوالو يې تعبير کړي
نه (احمد شاه) چې وښيي د وحدت لاره

د قلم د مجلې څخه:

فضل ولي ناګار

## سترګور «الفت» ته

د هودمن هنر قبله ورته ښکاريږي

چې د خيال غاړه کږه ورته ښکاريږي

دا ورشو د کوم فاتح ده چې شهسوار له

چم په چم روه او باړه ورته ښکاريږي

د انسان د تقدس ستر دعوه دار دی

دنياکی د چاوره ورته ښکاريږی

د (پريشان اوربل) د خوب تعبير يې وکړ

د ظالم جهان چپه ورته ښکاريږي

د پامير او د سپين غره د عظمت څوکی

---

2 مثل الذين اتخذوا من دون الله اولياء كمثل العنكبوت اتخذت بيتاً و ان اوهن البيوت البيت العنكبوت لوكانو يعلمون.

3 ولا تكونو كا التي نقضت غزلها من بعده قوة انكاثاً.

د ابدال بابا شمله ورته ښکارېږي

سترګور فقر يې نخښه خطا نه کړه

د دنيا طالب ساده ورته ښکارېږي

دا دی اوس هم د تکبير نړيزه چيغه

د خپل تير غبر انګازه ورته ښکارېږي

وخت په فن د تنقيد کچ اېښی ناکاره

«خو»: بې «پاچا» تشه دعوه ورته ښکارېږي

## د قلم فال

وربل ئې ما په خوب کښې پرېشان ليدلی دی

ستا بخت خو مې رقيبه دغه شان ليدلی دی

د ګلو هار په غاړه محبوبا شوه راحضوره

بلبله دا وطن مې ګلستان ليدلی دی

کارغان به پکښې نه وي بلبلان به پکښې وي

باغونه به سمسور وي ما باغوان ليدلی دی

دا توره شپه به خدای کاندی په مور باندې سبا

سپين مخ مې چې سبا غوندې روښان ليدلی دی

تعبیـر یـې کـړی مـا پـه ظالمـانو بـه چېـه شـي

چېـه کاکـل مـې خـوب کښـې د جانـان لیـدلی دی

مهاربـــه دې پـــه پـــوزه شـــي د ســـرو زرو خاونـــده

پـه سـرو شـونډو د پاسـه مـې پېـزوان لیـدلی دی

زه پټـې سـترګې نـه یمـه پـه هـر څـه اوس پـوهیږم

پـه خلاصـو سـترګو بانـدې مـا جهـان لیـدلی دی

له دامه که دې خلاص کړم په قفس کښې دی ایسار کړم

صـیاده مـا خـو ځـو رنګـه زنـدان لیـدلی دی

عمـل چـې وي آزاد او انتقـاد پکښـې بنـدي وي

مـا هلتـه د ظلمونـو سـخت طوفـان لیـدلی دی

که هر یو رانه وژني خیال او فکر مې مه وژنه
په دې کښې مې وطن ته لوی تاوان لیدلی دی

ارواښاد استاد الفت

نثارتربت پاک یگانه مجاهد خداپرست حقیقت بین وطنخواه
شاعربزرگواروسخن سرای بی مانندعصرما
دوست گرامی ویارجانی من گل پاچاالفت
ای زماگرانه اوروره

چگونه شعرنمایم بسوگ توانشاد
که حرف کند پیشترزمن فریاد

مرامجال نه بخشدسخن که گریم زار
که شعرزودترازمن عزاکندبنیاد

جهان شعربداغ توسوگوارشده
زخامه درغم توخون چکدبجای مداد

توشعربودی وتوذوق بودی وتوهنر
تونوربودی وتوصدق بودی وتوسداد

توگریه بودی وتوخنده بودی وتوعشق
توالفت وتومحبت توعاطفه تووداد

بگاه خشم خروشان چوسینهٔ جیحون
بگاه فخرفرازان چوقلهٔ شمشاد

قلم بمرگ تولرزدچنانکه درسرما
شکسته شاخ گلی لرزدازکشاکش باد

قسم بشعرکه: اندرقلمروخوشحال
بپایه توبدنیای شعرکمترزاد

برنج آبله پایان بینوای وطن
گریستی توچومادربماتم اولاد

باشک بیوهٔ بی خانمان بی فرزند
چه سیلهاکه زمژگان خامه ات نگشاد

بدردمرغک درخون طپیدهٔ مجروح
چه لعن هاکه نمودی بلانه صیاد

چه شامهای خجسته چه روزهای سعید
که باتوبود مراالفت مریدومراد

شبان ماه وشبان شباب ونای شبان
فضای خلوت یاران وصحبت آزاد

حدیث دلکش تودرفضای آن محفل
مسیح واربدلهای مرده جان میداد

دگرزنرگس شهلاکه وصفت خواهد کرد؟
که بباغ نرگس مارازمانه دادبیاد

دگرکه؟شانه زند زلف نسترن بقلم
دگرکه؟ تازه کند داغ لاله رابسواد

حدیث شوق که گویدکه خفت مرغ چمن
سرود باغ که خواندبباغ شعربیداد

دگرکه بردل مجروح مانهدمرهم
دگرکه خاطرمحزون مانمایدشاد

دگرکه نکته سراید لطیف ترازآب
دگرکه شعرسراید بدیع ترازباد

دگرکه گرگ ستم رازندبمشت دهن
دگرکه پاک کندچشم باز را زعناد

تونورچشم وطن بودی ای دریغ که چرخ
جفانمودو ترازیرخاک تیره نهاد

تودربیاض وسوادزمانه محفوظی
همیشه تابودازروز وشب بیاض وسواد

ترا بحافظهٔ روزگاربسپردند
که روزگار بد و خوب ما نماید یاد

حوت ۱۳۵۶
بغداد (خلیلی)

# د استاد الفت په اشعارو او نثرونو د پوهانو او مشرانو لنډ نظر:

*الفت د جما ل او شعر په دنيا کې يو سير کړی او د کائناتوله ليدلوېي يو موتې افکاررا ټول کړی ښايسته ښايسته ګلونه يې بوی کړی، مست شوی او په هغه پاکه مستی کې يې د زړه غړونه پورته شوی، دده ګوتو د هغه آرزوګانو ريکارد ثبت کړی دی.

د الفت په شعر کې د شاعر نصب العين چې زه ورته د مراد ټکی وايم ښه ځرګنديږي او دا په پښتو شعر کې زما يو زوړ ارمان ؤ چې الفت ويوست.

**استاد عبدالرحمن پژواك**

*************************

*ښه شعر هغه دی:

۱- چې عوام او خواص پرې پوه شي او عارف او امي ترې د خپل ذوق په اندازه خوند واخلي.

۲- چې په هر ځای کې يې د قبول لپاره ځای موجود وي او د زړونو دروازې ورته بيرته وي يعنې د محل او ماحول له احاطې نه بيرون.

۳- چې د زماني له قيده آزاد وي او پيری پيړی او د هر عصر خلك ورته قدر او قيمت ورکړي.

د مرحوم الفت په شعرونو کې دغه درې واړه ښيګړی شته.

**سيد شمس الدين مجروح**

*************************

*اگر معاني، گرامي گوهر دريای دلست و حا ل شاعر دريايي باشد که اين گوهر رامی پرورد، در ديار ما و در روزگار ما بلاشك اين لآلی فروزنده اشعار الفت و اين دريای گوهر خيز دل دردمند و حساس و سخن پرور آقای الفت است. الفت با اين مجموعهٔ نغز، بزبان خوشحا ل خان و رحمان با با نوای نويني افزوده و به شمشير شير شاه و محمود و احمد شاه پيرايهٔ ديگری بسته است.

سخنان او چاشني درد دارد و شور مليت.

من او را با داشتن چنين مجموعهٔ نغز و زيبا تهنيت ميگويم و بر دل دردمند و خامهٔ شيوا و طبع دريا بار او آفرين ميخوانم.

**استاد خليل الله خليلی**

*********************

*الفت ډیر دقیق او سترګور فنان او صنعت کار دی. د الفت هنر په پښتو نظم او نثر کښې ډیر ښه څرګندیږي او ځانته یو خاص طرز لري، د الفت نثر هم شعر دی او نظم یې هم شعر دی. الفاظ او کلمات د شاعر او لیکوال مصالح دي. که الفت هغه سره اوبدي او ترتیب ورکړي د پښتو ادب یو شهکار به وي او که د بل چا په قلم ولیکل شي نو هغه به یو عام نثر یا نظم وي.

استاد عبدالحی حبیبي

**************************

*ښاغلی الفت شعر نه تکلف لري نه تصنع، د ده موجونه د احساساتو(لکه کابل رود)د قریحې له لوړو چینو څخه بهیږي او لکه بعضې ناظمین ارهړ ته ندی محتاج.

اظهار د فضل او معلومات خرخول قطعاً وجود نلري، دی وایي چې زه (زړه) یم نه (دماغ)لاکن د ده مغزو زموږ د معنوي مایحتاجودقیق تحلیل کړی.

عبدالهادی داوي

******************

*د کومو مغزوله تل څخه چې دغه قیمتي مرغلرې راوتلي دي د هغو خاوند د پښتونخوا د آسمان د یو داسې ځلانده ستورئ مثال لري چې د اشعارو رڼا یې د هر چا د مغزو او زړونو په ګوټونو اثر اچوي، موږ ډیر خوشحاله یو چې دغسې غوره اثر په ډیر ښایسته طباعت او قطع د پښتنی دنیا نندارتون ته وړاندې کوو او پدې توګه پښتنو ته د یوه ارځښتناك اثر د چاپیدو زیری ورکوو.

پوهاند صدیق الله رښتین

********************************

*زمانه چې پر مدار د کینې راسي — د کمال پر منارو ټکې پریباسي
ډیر کلونه دي په کار چې په دې ملك کې — بیا ,,الفت‘‘ غوندې شیوا شاعر پیداسي

پوهاند عبد الشکور "رشاد‘‘